# دافغانستان اسلامي جمهوريت
## دعدليې وزارت

# رسمي جريده

- د لیســانـس د دورې د زده کـړې مقـرره
- د دولتي شــرکتو نــو نمو نــوي اساسنامــه

- مقـــررهٔ آمـــوزش دورهٔ لیســـانـس
- اساسنامــهٔ نمونـــوی شرکت هـــای دولتی

دخپرېدونېټه:د ۱۳۹۹هــ.ش کال دزمري دمياشتې (۱۱)
پرله پسې نمبر:(۱۳۸۲)

تاریــخ نشر:(۱۱) اسد سال۱۳۹۹ هــ.ش
نمبر مسلسل:(۱۳۸۲)

د امتیاز خاوند: د عدلیې وزارت

مسئول چلوونکی: قانونمل محمدرحیم "دقیق"

۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷

د دفتر تیلفون: ۰۲۰۲۳۱۴۲۹۸

مهتمم: محمد جان ۰۷۴۷۶۲۷۹۳۰

وبسایت: www.moj.gov.af

قیمت این شماره (به اساس قرارداد): (۳۸,٦۴) افغانی

تیراژ چاپ: (۱۰۰۰) جلد

تعداد صفحات به شمول پشتی: (۹۲) صفحه

مطبعه: پـــرویـــز

آدرس: وزارت عدلیه، ریاست نشرات و ارتباط عامه، ناحیه ششم _ غرب قصر دارالامان

## د لېسانس د دورې د زده کړې د مقررې د انفاذ په هکله د افغانستان اسلامي جمهوريت د رئيس حکم

ګڼه: (۳۳۱۱)

نېټه: ۱۳۹۸/۱۲/۱۴

**لومړۍ ماده:**

د لېسانس د دورې د زده کړې مقرره چې د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې د ۱۳۹۸/۱۱/۱۰ نېټې د (۱۱) ګڼې مصوبې پر بنسټ د (۸) فصلونو او (۴۴) مادو په دننه کې تصويب شوې ده، منظوروم.

**دوه يمه ماده:**

دغه حکم د افغانستان اسلامي جمهوريت د کابينې له مصوبې او د نوموړې مقررې له متن سره يوځای دې په رسمي جريده کې خپور شي.

محمد اشرف غني

د افغانستان اسلامي جمهوريت رئيس

## حکم رئيس جمهوری اسلامی افغانستان درمورد انفاذ مقررۀ آموزش دورۀ ليسانس

شماره: (۳۳۱۱)

تاريخ: ۱۳۹۸/۱۲/۱۴

**مادۀ اول:**

مقررۀ آموزش دورۀ ليسانس را که به اساس مصوبۀ شماره (۱۱) مؤرخ ۱۳۹۸/۱۱/۱۰ کابينۀ جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (۸) فصل و (۴۴) ماده تصويب گرديده است، منظور می دارم.

**مادۀ دوم:**

اين‌حکم همراه با مصوبۀ کابينۀ جمهوری اسلامی افغانستان و متن مقررۀ متذکره درجريدۀ رسمی نشرگردد.

محمد اشرف غنی

رئيس جمهوری اسلامی افغانستان

**د لېسانس د دورې د زده کړې**
**د مقررې د طرحې په هکله**
**د افغانستان اسلامي**
**جمهوریت د کابینې**
**مصوبه**

**ګڼه: (۱۱)**
**نېټه: ۱۳۹۸/۱۱/۱۰**

**د افغانستان اسلامي جمهوریت کابینې، د لېسانس د دورې د مقررې طرحه د ۱۳۹۸/۱۱/۱۰ نېټې په خپله غونډه کې د (۸) فصلونو او (۴۴) مادو په دننه کې تصویب کړه.**

**محمد اشرف غني**
**د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس**

**مصوبهٔ**
**کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان**
**در مورد طرح مقررهٔ**
**دورهٔ آموزش**
**لیسانس**

**شماره: (۱۱)**
**تاریخ: ۱۳۹۸/۱۱/۱۰**

**کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان، طرح مقررهٔ آموزش دورهٔ لیسانس را در جلسهٔ مؤرخ ۱۳۹۸/۱۱/۱۰ خویش به داخل (۸) فصل و (۴۴) ماده مورد تصویب قرار داد.**

**محمد اشرف غنی**
**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

## فهرست مندرجات

## مقررۀ آموزش دورۀ لیسانس

## فصل اول

## احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول: | مبنی | ۶ |
| مادۀ دوم: | اهداف | ۶ |
| مادۀ سوم: | اصطلاحات | ۷ |
| مادۀ چهارم: | ساحۀ تطبیق | ۱۱ |


## فصل دوم

## اساسات آموزش دورۀ لیسانس


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ پنجم: | تعداد کریدت ها | ۱۱ |
| مادۀ ششم: | فیصدی مضامین | ۱۲ |
| مادۀ هفتم: | فهرست مضامین | ۱۳ |
| مادۀ هشتم: | ساعات درسی | ۱۴ |
| مادۀ نهم: | مکلفیت درسی | ۱۴ |
| مادۀ دهم: | پالیسی آموزشی | ۱۵ |
| مادۀ یازدهم: | ثبت نام در مضمون | ۱۶ |
| مادۀ دوازدهم: | کُد مضمون | ۱۶ |
| مادۀ سیزدهم: | آغاز و ختم سمستر | ۱۷ |
| مادۀ چهاردهم: | تأجیل | ۱۸ |
| مادۀ پانزدهم: | استاد رهنما | ۱۹ |

## فصل سوم

### امتحان

مادۀ شانزدهم: نصاب حاضری........................................۲۰
مادۀ هفدهم: نمرۀ کامیابی ........................................۲۱
مادۀ هجدهم: تفکیک امتحانات........................................۲۱
مادۀ نزدهم: ارتقاء و عدم کریدت ........................................۲۲
مادۀ بیستم: تکرار سمستر........................................۲۷
مادۀ بیست و یکم: منفکی دایمی........................................۲۸
مادۀ بیست و دوم: عدم تکمیل اوسط نمرات........................................۲۸
مادۀ بیست و سوم: مدت دورۀ تحصیل ........................................۲۹
مادۀ بیست و چهارم: تشریح نمرات ........................................۳۰
مادۀ بیست و پنجم: انواع فورم........................................۳۰

## فصل چهارم

### طرز اخذ امتحان

مادۀ بیست و ششم: کمیتۀ امتحانات مؤسسۀ تحصیلات عالی...................۳۱
مادۀ بیست و هفتم: تعداد سوالات........................................۳۳
مادۀ بیست و هشتم: نتایج امتحان نهایی........................................۳۳

## فصل پنجم

### تبدیلی ها

مادۀ بیست و نهم: تبدیلی محصلان مؤسسات تحصیلات عالی دولتی.........۳۵
مادۀ سی ام: تبدیلی محصلان مؤسسات تحصیلات عالی خصوصی......۳۷
مادۀ سی و یکم: زمان تبدیلی ها........................................ ۳۹

مادۀ سی و دوم: تبدیلی محصلان خارج از کشور............. ۴۰
مادۀ سی و سوم: تغییر رشتۀ تحصیلی ........................ ۴۱
مادۀ سی و چهارم: معادلت اسناد تحصیلی خارج از کشور.................۴۱
مادۀ سی و پنجم: تبدیلی از مؤسسات تحصیلات نیمه عالی دولتی
به مؤسسات تحصیلات عالی دولتی.......................۴۳
مادۀ سی و ششم: مکلفیت محصل...................................۴۳

فصل ششم

شمولیت در مؤسسات تحصیلات عالی

مادۀ سی و هفتم: معرفی و شمولیت فارغان صنوف دوازدهم...............۴۴
مادۀ سی و هشتم: جذب فارغان صنوف چهاردهم.........................۴۵
مادۀ سی و نهم: شمولیت اتباع خارجی در مؤسسات تحصیلات عالی.......۴۷
مادۀ چهلم: شمولیت دوبارۀ محصلان بعد از منفکی.......................۴۷

فصل هفتم

خدمات محصلان

مادۀ چهل و یکم: طرح و تطبیق خدمات محصلان..........................۴۹

فصل هشتم

احکام نهایی

مادۀ چهل و دوم: نظارت...............................................۵۴
مادۀ چهل و سوم: وضع لوایح و طرزالعمل‌ها...........................۵۴
مادۀ چهل و چهارم: انفاذ...............................................۵۴

# د لېسانس د دورې د زده کړې مقرره

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبنی**

**لومړۍ ماده:**

دغه مقرره د ملکي لوړو زده کړو د قانون د يو اويايمې مادې د حکم له مخې، وضع شوې ده.

**موخې**

**دوه يمه ماده:**

د دغې مقررې موخې عبارت دي له:

۱- د لوړو زده کړو د مؤسسو د محصلانو معياري زده کړه او د متخصص او ژمن انساني ځواک روزنه.

۲- له نړيوالو سټنډردونو سره سم د لوړو زده کړو د مؤسسو د زده کړه ييز سيستم معياري کول.

۳- د فعاليتونو پرمختيا، وده او پياوړي کول او د نړيوالې آزماينت شوو

# مقررۀ آموزش دورۀ لیسانس

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادۀ اول:**

این مقرره به تأسی از حکم مادۀ هفتاد و یکم قانون تحصیلات عالی ملکی، وضع گردیده است.

**اهداف**

**مادۀ دوم:**

اهداف این مقرره عبارت است از:

۱- آموزش معیاری محصلان مؤسسات تحصیلات عالی و تربیۀ نیروی انسانی متخصص و متعهد.

۲- معیاری سازی سیستم آموزشی مؤسسات تحصیلات عالی مطابق ستندرد های جهانی.

۳- انکشاف، رشد و تقویت فعالیت ها و سهم گیری عملی محصلان با رعایت

تګلارو له رعایت سره سم د محصلانو عملي برخه اخیستنه.

۴- مستعد، نخبه او هڅاندو محصلانو لپاره د فرصتونو او عملي زمینو برابرول.

۵- د محصل محوری د تحقق لپاره د زمینو رامنځ ته کول.

٦- د لوړو زده کړو په مؤسسو کې د دوولسمو او څوارلسمو ټولګیو د فارغانو د شمولیت تنظیمول.

۷- د کار زده کړې پورې د اړوندو چارو تنظیمول.

۸- د لوړو زده کړو په مؤسسو کې د محصلانو په تبدیلي پورې د اړوندو چارو تنظیمول.

۹- د لوړو زده کړو په مؤسسو کې د اکاډمیک ثبات تأمینول.

اصطلاحګانې

درېیمه ماده:

په دې مقرره کې راتلونکې اصطلاحګانې لاندې مفاهیم افاده کوي:

۱- محصل: هغه شخص دی چې

روش های آزمون شدهٔ جهانی.

۴- مساعد ساختن فرصت ها و زمینه های عملی برای محصلان مستعد، نخبه و کوشا.

۵- ایجاد زمینه ها برای تحقق محصل محوری.

٦- تنظیم شمولیت فارغان صنوف دوازدهم و چهاردهم در مؤسسات تحصیلات عالی.

۷- تنظیم امور مربوط به کار آموزی.

۸- تنظیم امور مربوط به تبدیلی محصلان در مؤسسات تحصیلات عالی.

۹- تأمین ثبات اکادمیک در مؤسسات تحصیلات عالی.

اصطلاحات

مادهٔ سوم:

اصطلاحات آتی در این مقرره مفاهیم ذیل را افاده می‌نماید:

۱- محصل: شخصی است که جهت

د دغې مقررې او زده کړه ییزو لایحو سره سم د لېسانس په سویه یا له هغه څخه پورته، د پوهې او مهارتونو د ترلاسه کولو لپاره ټاکلې برنامې تعقیبوي.

۲- کرېډټ: هغه درسي واحد دی چې د هغه پر بنسټ د زده کړه ییزې دورې نصاب د سمسترونو او په درسي نصاب کې د هر مضمون د ونډې په تفکیک سره ټاکل کېږي.

۳- زده کړه ییز کال: هغه موده ده، چې دوه سمسترونه پکې شاملېږي چې د هغې په ترڅ کې ټول درسي ساعتونه بشپړېږي. دغه کال د تقویمي کال تابع نه دی، په معمول ډول یو زده کړه ییز کال دوه درسي سمسترونه رانغاړي.

۴- سمستر: زده کړه ییز نیم کال دی چې د هغه په ترڅ کې محصل یو درسي سمستر بشپړوي او د آزموینو له ورځو څخه پرته شپاړلس درسي اونۍ رانغاړي.

کسب دانش و مهارت ها به سویهٔ لیسانس یا بالاتر از آن، برنامه های معینه را مطابق احکام این مقرره و لوایح تحصیلی تعقیب می‌نماید.

۲-کریدت: واحد درسی است که بر اساس آن نصاب دورهٔ تحصیلی به تفکیک سمستر ها و سهم هر مضمون در نصاب درسی تعین می‌شود.

۳- سال تحصیلی: مدتی است، شامل دو سمسترکه در خلال آن همه ساعات درسی تکمیل می‌شود. این سال تابع سال تقویمی نیست، یک سال تحصیلی به گونهٔ معمول در برگیرندهٔ دو سمستر درسی می‌باشد.

۴- سمستر: نیم سال تحصیلی است که در خلال آن محصل یک سمستر درسی را اکمال می‌نماید و بدون روز های امتحانات شانزده هفتهٔ درسی را در بر می‌گیرد.

۵- درسي اونـــــــۍ: هغه رســـــمي ورځې دي چې د هغو په ترڅ کې د هر کرېډټ د بشپړولو لپاره کافي وخــت د هغـــــو د نظري، عملي يا ساحوي ځانګړنو په پام کې نيولو سره په پام کې نيول شوی وي.

۶- جبراني ساعتونه: هغه ساعتونه دي چې د هغو ساعتونو په بدل کې چـــې تدريس پکې صورت مونده‌لای نـــه وي د درسي ساعتونو د بشپړولو په موخـــه سمستر په اوږدو کـــې پــــه مناســبو وختونو کـــې د مضـــمون ځـــانګړنو تـــه پـــه کتو ســـره او د پوهنتون په صلاح ديد تنظيم او محصلان په هغـــو کې په حضور مکلف دي.

۷- اساسي مضمونونه: هغه مضمونونه دي چې د هغو زده کړه د مسلکي او ځانګې د حتمي مضمونونو ته د ورتلو لپاره لازمي دي او د مسلکي مضامينو بنسټ جوړوي.

۸- مسلکي مضمونـــــونه: هغـــــــه مسلکي مضمونونه دي چې د تعـــويض وړ نه دي او د هغو اړتيا حتمي او اړينه

۵- هفتهٔ درسی: روز های رسمی است کـــــه در خـــــــلال آن وقــــت کافی برای اکـــــمال هـــر کريـــدت با در نظرداشت خصوصيت نظـــری، عملـــی يـــا ســـاحوی آن در نظـــر گرفته شده باشد.

۶- ساعات جبرانی: ساعاتی اســـت کـــه در بـــدل ســـاعاتی کـــه در آن تـــدريس صـــورت نگرفتـــه به هدف تکميـــل ســـاعات درســـی در طـــول سمســـتر در مواقـــع مناســـب نظـــر بـــه خصوصـــيات مضمون و صـــلاح ديـــد پوهنتـــون تنظيم و محصلان مکلف بـــه حضـــور در آن می‌باشند.

۷- مضامين اساسی: مضامينی اســـت که آموزش آن ها برای ورود به مضامين حتمی مسلکی و رشته لازمی می‌باشد و تهـــداب مضـــامين مســـلکی را تشکيل می‌دهد.

۸- مضامين مسلکی: مضامين مسلکی است که غير قابل تعـــويض بـــوده و ضرورت آنهـــا حتمـــی و ضـــروری

ده. دغه مضمونونه په ځينو پوهنتونونو کې اصلي ځانګه جوړوي.

۹- ټاکنيز مضمونونه: هغه مضمونونه دي چې د زده کړه ييزې تحصيلي مؤسسې له خوا د شته برنامې پر بنسټ د سمستر په بهير کې تدريس کېږي.

۱۰- ټول شموله مضمونونه: هغه مضمونونه دي چې د لوړو زده کړو د مؤسسو په ټولو پوهنځيو کې يو شان تدريس کېږي.

۱۱- اړين مضمونونه: هغه مضمونونه دي چې راتلونکو مضمونونو ته له ورتلو څخه وړاندې د هغو بريالي بشپړول اړين دي. د داسې مضمونونو په برياليتوب سره نه بشپړول راتلونکي مضمون ته د محصل د شاملېدو مانع ګرځي.

۱۲- محصل محوري زده کړه: هغه درسي ميتود دی چې زده کړه‌ييز تمرکز له استاد څخه محصل ته لېږدول کېږي.

۱۳- آزموينه: د محصل د زده کړې او

می‌باشد. این مضامین در بعضی پوهنتون ها، رشتهٔ اصلی را تشکیل می‌دهد.

۹- مضامین انتخابی: مضامینی است که از طرف مؤسسهٔ تحصیلی بر اساس برنامهٔ موجود در جریان سمستر ها تدریس می‌گردد.

۱۰- مضامین همه شمول: مضامینی است که در تمام پوهنځی های مؤسسات تحصیلات عالی یکسان تدریس می‌گردد.

۱۱- مضامین پیش نیاز: مضامینی است که اکمال مؤفقانهٔ آن ها قبل از ورود به مضمون بعدی ضروری می‌باشد. عدم اکمال مؤفقانهٔ چنین مضامین مانع شمول محصل به مضمون بعدی می‌گردد.

۱۲- آموزش محصل محوری: میتود درسی است که تمرکز آموزش از استاد به محصل انتقال می‌یابد.

۱۳- امتحان: ارزیابی و اندازه گیری

مهارتونو د ترلاسه کولـــو ارزونه او اندازه اخيستنه ده چې د سمستر په بهير او د سمستر په پای کې له محصل څخه اخيستل کېږي.

۱۴- د نمرو اوسط: د زده کړې پـه دوران کې د محصل د نمرو د اوســط فيصدي ده چــې د زده‌کړې په دوران کې د سمســتر د نمــرو اوســط او د عمومي نمرو اوسط ته شامليږي.

**د تطبيق ساحه**

**څلورمه ماده:**

د دې مقررې حکمونه د لوړو زده کړو پر دولتي او خصوصي مؤسسو د تطبيق وړ دي.

## دوه يم فصل

## د لېسانس د دورې د زده کړې اساسات

**د کريډټونو شمېر**

**پنځمه ماده:**

(۱) د لېسانس په دوره کې د کريډټونو لږترلږه ۱۳٦ کريــډټه او د هغـــــو

کسب دانش و مهارت های محصـــل اســت کـــه درجريـــان سمســـتر و درآخـــر سمســـتر از محصـــل اخذ می‌گردد.

۱۴- اوســط نمــرات: فيصـــدی اوســط نمــرات محصـــل در دوران تحصيل می‌باشد که شـــامل اوســط نمرات سمستر و اوسط نمرات عمومی در دوران تحصيل می‌باشد.

**ساحۀ تطبيق**

**مادۀ چهارم:**

احکام اين مقرره بـــالای مؤسســـات تحصيلات عالی دولتی و خصوصی قابل تطبيق می‌باشد.

## فصل دوم

## اساسات آموزش دورۀ ليسانس

**تعداد کريدت ها**

**مادۀ پنجم:**

(۱) حـــداقل کريـــدت هـــا در دورۀ ليســانس ۱۳٦ کريـــدت و

زيات نه زيات د اړوندې ځانګـــــې د زده کړه ييزې دورې په اوږد والـــې پورې تړاو لري او په يو سمستر کې له ۲۱ کرېډټونو څخه زياتېدای نه شـي، محصل د ټولو ټاکلو کرېــډټونو پــه بشپړولو مکلف دی.

(۲) يــو مضمون په يوه اونۍ کې زيات نه زيات د ۵ کرېډټونو لرونکــی دی. د کرېډټونو شمېر په زده‌کړه ييز پــلان کې مشخص کېږي.

(۳) يو کرېډټ په يوه اونۍ کــې يــو درسي ساعت ۵۰ دقيقــې نظـــري درسونه او د سمستر په اوږدو کـــې ۱۶ درسي ساعتونه ۵۰ دقيقې نظـــري درســــــونه رانغاړي. دوه ساعتــــه تطبيقات يا په لابراتوار کې عملي کار يا درې ساعته ستاژ، ساحوي کار او يـــا کلينيکي فعاليتونه له يوه درسي ساعت سره معادل محاسبه کېږي.

## د مضمونونو فيصدي

**شپږمه ماده:**

د لېسانس د دورې مضمونونه پــــــه

حداکثر آن مربــوط بــه طــول دورهٔ تحصـــيلی رشـــتهٔ مربـــوط بـــوده و از ۲۱ کريـــــــدت در يــــــک سمستر بيشــتر بــوده نمــی‌توانــد، محصل مکلــف بــه تکميــل تمــام کريدت های معينه می‌باشد.

(۲) يک مضمون در يک هفته حداکثر دارای ۵ کريدت مــی‌باشــد. تعــداد کريدت ها در پلان تحصيلی مشخص می‌گردد.

(۳) يک کريدت در يک هفتهٔ درسی يک ساعت درسی ۵۰ دقيقــه دروس نظری و در طول سمستر ۱۶ ساعت درسی ۵۰ دقيقــه دروس نظــری را در بر می‌گيرد. دو ساعت تطبيقات يا کار عملی در لابراتوار يا سه ســاعت ستاژ، کار ساحوی و يا فعاليت هــای کلينيکی معادل به يک ساعت درســی محاسبه می‌شود.

## فيصدی مضامين

**مادهٔ ششم:**

مضامين دورهٔ ليسانس بــه مضــامين

بنسټيزو مضمونونو، مسلکي مضمونونو، ټاکنيزو مضمونونو، او ټول شموله مضمونونو وېشل کېږي. د لېسانس د دورې مضمونونه د بنسټيزو مضمونونو زيات نه زيات ۳۰ سلنه مسلکي مضمونونه لږترلږه ۵۰ سلنه او د ټول شموله مضمونونو په ګډون ټاکنيز مضمونونه ۱۲ سلنه، پای ليک (مونوګراف، سيمينار، ستاژ او د ډيپلوم د پروژې بشپړول) ۸ سلنه احتوا کوي.

## د مضمونونو لړليک

اوومه ماده:

د بنسټيزو مضمونونو، اختصاصي مضمونونو، ټاکنيزو مضمونونو، ټول شموله مضمونونو د کټګوريو د هر يوه د لړليک ټاکل او د زده کړه‌ييز نصاب تدوينول د ملکي لوړو زده کړو په قانون کې د درج شوو شرطونو د لرونکي ډيپارتمنت له واکونو څخه دي چې له اکاډميکو پړاوونو تېرېدو وروسته مرعي الاجراء دي.

اساسی، مضامين مسلکی، مضامين انتخابی و مضامين همه شمول، تقسيم می‌شوند. مضامين اساسی حداکثر ۳۰ فيصد، مضامين مسلکی حداقل ۵۰ فيصد، مضامين انتخابی به شمول مضامين همه شمول۱۲ فيصد، پايان نامه (مونوگراف، سيمينار، ستاژ و تکميل پروژۀ ديپلوم) ۸ فيصد مضامين دورۀ ليسانس را احتوا می‌نمايد.

## فهرست مضامين

مادۀ هفتم:

تعيين فهرست هر يک از کتگوری های مضامين اساسی، مضامين اختصاصی، مضامين انتخابی، مضامين همه شمول و تدوين نصاب تحصيلی از صلاحيت ديپارتمنت های واجد شرايط مندرج قانون تحصيلات عالی ملکی بوده که بعد از طی مراحل اکاديمیک مرعی الاجراء می‌باشد.

## درسي ساعتونه

**اتمه ماده:**

یو مضمون په عین ورځ کې له دوو ساعتونو څخه زیات تدریس کېدای نه شي. د تطبیقاتو کارونه استثناءً په یوه ورځ کې تر څلورو ساعتونو پورې او ساحوي کارونه کېدای شي بشپړه ورځ وي.

## درسي مکلفیت

**نهمه ماده:**

(۱) په یوه سمستر کې د محصل درسي مکلفیت له ۱۷ تر ۲۱ کریډټه دی (د هغو محصلانو په استثناء چې کریډټ یې نه وي بشپړ کړي).

(۲) محصل کولای شي د لاربښود استاد او اړوند دیپارتمنت سره په تفاهم د کریډټونو له ثبت څخه وروسته تر دوو اونیو پورې د یوه یا دوو مضمونونو له تعقیب څخه ډډه وکړي، په دې شرط چې د کریډټونو شمېر لږترلږه له ۱۷ کریډټونو څخه کم نه شي.

(۳) دیپارتمنتونه مکلف دي، په نصاب

## ساعات درسی

**مادۀ هشتم:**

یک مضمون در عین روز بیشتر از دو ساعت تدریس شده نمی‌تواند. کار های تطبیقات استثناءً در یک روز تا چهار ساعت و کار های ساحوی می‌تواند، روز مکمل باشد.

## مکلفیت درسی

**مادۀ نهم:**

(۱) مکلفیت درسی محصل در یک سمستر ۱۷ الی ۲۱ کریدت می‌باشد (به استثنای محصلانی که کریدت را تکمیل نکرده باشند).

(۲) محصل می‌تواند الی دو هفته بعد از ثبت کریدت ها در تفاهم با استاد رهنما و دیپارتمنت مربوط از تعقیب یک یا دو مضمون صرف نظر نماید، مشروط بر اینکه تعداد کریدت ها حداقل از ۱۷ کریدت کمترنشود.

(۳) دیپارتمنت ها مکلف اند، جهت

کې د شاملو ټاکنيزو مضمونونو لپــاره د ټاکنې د زمينې د برابرولو په منظــور د اړوندو مضمونونو لېست برابر کړي او د پوهنځي د علمي شوري له تأييــد وروسته يې د محصلانو په لاسرسي کې ورکړي.

## ښوونيزه پاليسي

لسمه ماده:

(۱) د علمـــــــي کادر غړي او اړوند ديپارتمنتونه د سمستر له پيل څخـــــه مخکې د هر مضمون لپاره د ښوونيزې پاليسۍ په ترتيب او اعلام مکلف دي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوي د علمي کادر غړي مکلف دي، د درسي برنامې سرليکونه او مفردات، د درس د پرمخ بيولو تګلاره، د ارزونې تګلاره، د مضمون د يــادولو مــوخې متوقعه پايلې، په اړونده څانګه کـــې د مضمون ونډه او په درسي نصاب کې شامل نور اړين معلومات په ليکلي ډول سره د محصلانو پــه لاسرســي کــې ورکړي.

فراهم آوری زمینـــۀ انتخـــاب بـــرای مضامين انتخـــابی شـــامل نصـــاب، ليســـت مضـــامين مربـــوط را تهيـــه و بعـــد از تأييـــد شـــورای علمـــی پـــــوهنځی بدســـــترس محصـــــلان قرار دهند.

## پاليسی آموزشی

مادۀ دهم:

(۱) اعضای کادرعلمی وديپارتمنت‌های مربوط مکلف به ترتيب و اعلام پاليسی آموزشی برای هر مضـــمون قبـــل از شروع سمستر می‌باشند.

(۲) اعضای کـــادر علمـــی منـــدرج فقرۀ (۱) اين مـــاده مکلـــف انـــد، عناوين و مفردات برنامـــۀ درســـی، روش پيشـــــــــــــبرد درس، روش ارزيـــابی اهـــداف يـــاد گيـــری مضمون، نتايج متوقعه، سهم مضـــمون در رشتۀ مربوط و ســـاير معلومـــات ضروری شـــامل نصـــاب درســـی را طورکتبی بدسترس محصـــلان قـــرار دهند.

(۳) د ښوونیزې پالیسۍ په پرمخ بیولو کې زیات نه زیات کوښښ وشي ترڅو د محصل ونډه اخیستل او فعالیت (محصل محوري ښوونې) ته پرمختیا ورکړل شي.

## په مضمون کې د نوم ثبتول

**یوولسمه ماده:**

محصل مکلف دی، د سمستر له پیل څخه وروسته زیاته نه زیات د دوه یمې اونۍ تر پایه پورې د نصاب په شامل مضمون کې نوم ثبت کړي. هغه مضمونونه چې محصل په هر سمستر کې په هغو کې نوم ثبتوي د دې مقررې له حکمونو او د اړوند پوهنځي له نورو لارښودو سندونو سره سم د لارښود استاد یا اړوند دیپارتمنت سره په مشورې ټاکل کېږي.

## د مضمون کُد

**دولسمه ماده:**

هر مضمون د یوه کُد لرونکی دی چې په هغه کې دوه لومړني انګلیسي توري د پوهنځي لپاره

(۳) در پیشبرد پالیسی آموزشی حداکثر کوشش به عمل آید تا سهم گیری و فعالیت محصل (آموزش محصل محوری) انکشاف داده شود.

## ثبت نام درمضمون

**مادۀ یازدهم:**

محصل مکلف است، حداکثر الی ختم هفتۀ دوم بعد از شروع سمستر در مضمون شامل نصاب ثبت نام نماید. مضامینی که محصل در هر سمستر در آن ثبت نام می‌نماید در مشوره با استاد رهنما یا دیپارتمنت مربوط مطابق احکام این مقرره و سایر اسناد رهنمودی پوهنځی مربوط تعیین می‌شود.

## کُد مضمون

**مادۀ دوازدهم:**

هر مضمون دارای یک کُد است که در آن دو حرف اول به انگلیسی برای پوهنځی

او دوه يــم انګليســـي دوه تـــوري د ديپارتمنت لپاره او د کُډ وروســـتي څلور عددونه په مضمون او سمســـتر پــورې اړوند دي چې دوه لـــومړني عددونه د زده‌کړې پيز سمستر بيانوونکي او وروستي دوه عدده د هر مضـــمون ځانګړی کُډ افاده کوي.

## د سمستر پيل او پای

**ديارلسمه ماده:**

(۱) په سرد سيمو ولايتونو کې پسرلنی سمستر د کب له ۱۵ څخــه پيــل او د ۱۶ درسي اونيو او د آزمويـنـو د ۴ اونيو له بشپړولو څخه وروسته پای ته رسيږي او په ګرم سيمو ولايتونو کــې پسرلنی سمستر د سلواغې له ۱۵ څخه پيل او د ۱۶ درسي اونيو او د آزموينو د ۴ اونيو له بشپړيدو څخه وروسته پای ته رسيږي.

(۲) د مني سمستر پـه ســرد ســيمو ولايتونو کې د زمري له ۱۵ څخه پيل او د ۱۶ درسي اونيو او د آزموينو د ۴ اونيو له بشپړيدو څخه وروسته پای ته

و دو حرف دوم به انگليسی بـــرای ديپارتمنت و چهار عدد آخر کُد مربوط بـــه مضـــمون و سمســـتر می‌باشد کـــه دو عـــدد اول بيـــانگر سمستر تحصيلی و دو عدد بعدی کُد مخصوص هـــر مضـــمون را افـــاده می‌نمايد.

## آغاز و ختم سمستر

**مادۀ سيزدهم:**

(۱) سمســـــتربهاری در ولايـــات ســـرد ســـير از ۱۵ حـــوت آغـــاز و بعـــد از تکميـــل ۱۶ هفتـــۀ درســـی و ۴ هفتـــه امتحانـــات خـــتم مـــی‌گـــردد و در ولايـــات گـــرم ســـير سمســـتر بهـــاری از ۱۵ دلو آغاز و بعد از تکميل ۱۶ هفتۀ درسی و ۴ هفته امتحانات ختم می‌گردد.

(۲) سمســـــترخزانی در ولايـــات ســـرد ســـير از ۱۵ اســـد آغـــاز و بعد از تکميل ۱۶ هفتۀ درسی و ۴ هفتۀ امتحانات ختم مـــی‌گـــردد و در

رسېږي او په ګرم سېرو ولایتونو کې د وږي له ۱۵ څخه پیل او د ۱٦ درسي اونیو او د آزموینو د ۴ اونیو له بشپړېدو څخه وروسته پای ته رسېږي.

(۳) د لوړو زده کړو وزارت کولای شي په ځانګړو حالاتو کې د دې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې د درج شویو سمسترونو پیل او پای ته بدلون ورکړي.

تأجیل

څوارلسمه ماده:

(۱) محصل کولای شي، د زده‌کړه ییزې دورې په اوږدو کې یواځې یو ځل د یوه کال لپاره د سمستر په پیل یا د سمستر له آزموینې څخه وړاندې د یوې میاشتې په ترڅ کې تأجیل واخلي.

(۲) محصل کولای شي، د مؤجهو دلیلونو پر بنسټ د سمستر په جریان کې د اړوندې تحصیلي مؤسسې د پوهنځي د علمي شورى له تأیید څخه وروسته تأجیل واخلي.

ولایات گرم سیر از ۱۵ سنبله آغاز و بعد از تکمیل ۱٦ هفتهٔ درسی و ۴ هفتهٔ امتحانات ختم می‌گردد.

(۳) وزارت تحصیلات عالی می‌تواند در حالات خاص آغاز و ختم سمستر های مندرج فقره های (۱ و ۲) این ماده را تغییر دهد.

تأجیل

مادهٔ چهاردهم:

(۱) محصل می‌تواند، در طول دورهٔ تحصیل برای یک سال صرف یکبار در خلال یک ماه در شروع سمستر یا قبل از امتحان سمستر تأجیل اخذ نماید.

(۲) محصل می‌تواند، بنابر دلایل مؤجه در جریان سمستر بعد از تأیید شورای علمی پوهنځی مؤسسهٔ تحصیلی مربوط تأجیل اخذ نماید.

(۳) که چېرې د غیر مترقبه پېښو او معقول عذر له امله د دوه یم ځل لپاره د تأجیل غوښتنه صورت ومومي په دې زمینه کې د پوهنځي علمي شوری او د زده کړه ییزې مؤسسې علمي شوری تصمیم نیسي.

(۴) د تأجیل موده د زده کړې په دوره کې د محاسبې وړ نه ده.

## لارښود استاد

**پنځلسمه ماده:**

(۱) اړوند دیپارتمنت یا پوهنځی امکاناتو ته په کتو سره په هرکال کې د هر ټولګي محصلانو لپاره د علمي کادر یو غړی د لارښود استاد په توګه ټاکي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوی لارښود استاد د محصلانو د زده کړه ییزې څانګې سره سم ټاکل کېږي او د اړوندو محصلانو د اکادمیکو چارو مسؤول وي.

(۳) د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي لارښود استاد فعالیتونه

(۳) هرگاه تقاضای تأجیل برای بار دوم در اثر حوادث غیر مترقبه و عذر معقول صورت گیرد در زمینه شورای علمی پوهنځی و شورای علمی مؤسسهٔ تحصیلی تصمیم اتخاذ می‌نماید.

(۴) مدت تأجیل در دورهٔ تحصیل قابل محاسبه نمی‌باشد.

## استاد رهنما

**مادهٔ پانزدهم:**

(۱) دیپارتمنت یا پوهنځی مربوط نظر به امکانات برای محصلان هر صنف در هر سال یک عضو کادر علمی را به حیث استاد رهنما تعیین می‌نماید.

(۲) استاد رهنمای مندرج فقرهٔ (۱) این ماده مطابق رشتهٔ تحصیلی محصلان تعیین گردیده و مسؤول امور اکادمیک محصلان مربوط می‌باشد.

(۳) فعالیت های استاد رهنمای مندرج فقرهٔ (۱) این ماده در

د هغه په علمي فعالیتونو کې محاسبه کیږي.

## دریم فصل

## آزموینه

**د حاضرۍ نصاب**

**شپاړسمه ماده:**

(۱) په مضمون کې د حاضرۍ د نصاب بشپړول حتمي دی. په درسي ساعتونو کې ۷۵ سلنه حاضري د اړوند مضمون په وروستنۍ آزموینه کې د شاملېدو شرط ګڼل کیږي.

(۲) د مضمون د تطبیقاتو په ساعتونو کې له ۲۵ سلنې څخه زیاته غیرحاضري د تطبیقاتو له نمرو څخه د محرومیت لامل کیږي.

(۳) د محصلانو د حاضري رپوټ د تدریسي مدیریتونو په واسطه توحیدیږي او د محصلانو د چارو معاونیت ته لیږل کیږي.

(۴) د محصلانو چارو معاونیت د هر سمستر په پای کې توحید شوی رپوټ د پوهنتون علمي شوری ته

فعالیت های علمی وی محاسبه می‌شود.

## فصل سوم

## امتحان

**نصاب حاضری**

**مادۀ شانزدهم:**

(۱) تکمیل نصاب حاضری در مضمون حتمی می‌باشد. ۷۵ فیصد حاضری در ساعات درسی شرط شمول در امتحان نهایی مضمون مربوط دانسته می‌شود.

(۲) غیرحاضری بیشتر از ۲۵ فیصد در ساعات تطبیقات همان مضمون موجب محرومیت از نمرۀ تطبیقات می‌شود.

(۳) گزارش حاضری محصلان توسط مدیریت های تدریسی توحید گردیده و به معاونیت امور محصلان ارسال می‌گردد.

(۴) معاونیت امور محصلان در ختم هر سمستر گزارش توحید شده را به شورای علمی پوهنتون ارائه

وړاندې کوي.

## د بریالیتوب نمره

اوولسمه ماده:

(۱) د هر مضمون لپاره د بریالیتوب نمره ۵۵ سلنه ده، سربېره پر دې په هر سمستر کې د عمومي نمرو د اوسط ۶۰ سلنه بشپړول لازمي ګڼل کېږي.

(۲) د سمستر د نمرو د اوسط محاسبه یا د هر مضمون د کریډیټونو شمېر د نوموړي مضمون له وروستنۍ نمرې سره ضربېږي او د ورکړې شوو آزموینو د مضمونونو د نمرو مجموعي د هماغو مضمونونو د کریډیټونو د شمېر پر مجموعي تقسیمېږي.

## د آزموینو تفکیک

اتلسمه ماده:

(۱) د مضمونونو ارزونه په لاندې ډول محاسبه کېږي:

۱- وروستنۍ آزموینه له ۵۰ تر ۶۰ سلنې.

۲- د سمستر منځنۍ آزموینه له ۲۰ تر ۳۰ سلنې.

می‌نماید.

## نمرهٔ کامیابی

مادهٔ هفدهم:

(۱) نمرهٔ کامیابی برای هر مضمون ۵۵ فیصد می‌باشد، علاوه بر آن تکمیل ۶۰ فیصد اوسط نمرات عمومی در هر سمستر لازمی دانسته می‌شود.

(۲) محاسبهٔ اوسط نمرات سمستر یا تعداد کریدت هر مضمون ضرب در نمرهٔ نهایی مضمون مذکور گردیده و مجموع نمرات مضامین امتحان داده شده تقسیم مجموع تعداد کریدت های همان مضامین می‌شود.

## تفکیک امتحانات

مادهٔ هجدهم:

(۱) ارزیابی مضامین طور ذیل محاسبه می‌گردد:

۱- امتحان نهایی از ۵۰ الی ۶۰ فیصد.

۲- امتحان وسط سمستر از ۲۰ الی ۳۰ فیصد.

۳- تطبیقات، عملي کار او د ټولګي فعالیتونه ۲۰ سلنه.

(۲) هغه مضمونونه چې عملي کار یا تطبیقاتو ته اړتیا نه لري، وروستۍ ارزونه یې له ۶۰ تر ۷۰ سلنې پورې محاسبه کېږي.

(۳) که چېرې محصل د سمستر په منځنۍ آزموینه کې ګډون و نه کړي، د سمستر د منځنۍ آزموینې دوه یم چانس له ۷۵ سلنې نمرو څخه محاسبه کېږي.

(۴) د ټولګي د پروژې، ګرافیکي کار، ستاژ او د لوست د زده‌کړې ارزونه د اړوندو دیپارتمنټونو له واک څخه دي.

## ارتقاء او نه کریډېټ

**نولسمه ماده:**

(۱) محصل هغه وخت کولای شي لوړ سمستر ته ارتقاء وکړي چې په هماغه سمستر کې د ثبت شوو کریډېټونو نیمایي بشپړ کړي، په هغه صورت کې چې کریډېټونه طاق وي، نیمایي کریډېټ

۳- تطبیقات، کار عملی و فعالیت های صنفی ۲۰ فیصد.

(۲) مضامینی که ضرورت به کار عملی یا تطبیقات ندارند، ارزیابی نهایی آن از ۶۰ الی ۷۰ فیصد محاسبه می‌گردد.

(۳) هرگاه محصل در امتحان وسط سمستر اشتراک ننماید، چانس دوم امتحان وسط سمستر از ۷۵ فیصد محاسبه می‌گردد.

(۴) ارزیابی پروژهٔ صنفی، کارگرافیکی، ستاژ و آموزش تدریس از صلاحیت دیپارتمنت های مربوط می‌باشد.

## ارتقاء و عدم کریدت

**مادهٔ نزدهم:**

(۱) محصل زمانی می‌تواند به سمستر بالا ارتقاء نماید که نصف کریدت‌های ثبت شده در آن سمستر را تکمیل نماید، در صورتی که کریدت ها طاق باشد، نصف کریدت به نفع محصل

د محصل په ګټه محاسبه کېږي.
(۲) که چېرې محصل په یوه یا څو هغو مضمونونو کې چې د هماغه سمستر له نیمايي کریډیټونو څخه ډېرکم وي محروم، غایب او د بریالیتوب د نمرې په اخیستلو ونه توانېږي بل سمستر ته ارتقاء کوي په هماغه مضمون یا مضمونونو کې، نه کریډیټ شمېرل کېږي، د نه کریډیټ مضمونونو د بشپړولو لپاره د دوو سمسترو تر منځ په رخصتیو او یا په راتلونکو سمسترونو کې د لړۍ په پام کې نیولو سره له لاندې امکاناتو څخه ګټه اخیستی شي:
۱- د هغو مضمونونو د شمېر له مخې چې په کې د بریالیتوب نمره یې نه ده اخیستې له ۲ تر ۴ اونیو پورې د مضمون تعقیبول او د مضمون په پای کې د آزموینې تېرول.
۲- له ۲ تر ۴ اونیو لپاره د دیپارتمنت له لورې د سپارل شوې دندې ترسره کول چې د مضمون د منځپانګې معادل وي او په پای کې د آزموینې د تېرولو چمتووالی.

محاسبه می‌گردد.
(۲) هرگاه محصل در یک یا چند مضمون که کمتر از نصف کریدت های همان سمستر باشد محروم، غایب و قادر به اخذ نمرهٔ کامیابی نگردد به سمستر بعدی ارتقاء نموده در همان مضمون یا مضامین، عدم کریدت محسوب گردیده، برای تکمیل مضامین عدم کریدت در رخصتی های بین دو سمستر یا در سمستر های بعدی با رعایت تسلسل از امکانات ذیل استفاده نموده می‌تواند:
۱- تعقیب مضمون ۲ الی ۴ هفته نظر به تعداد مضامینی که در آن نمرهٔ کامیابی اخذ نه نموده است و در ختم مضمون سپری نمودن امتحان.
۲- انجام وظیفهٔ سپرده شده از طرف دیپارتمنت برای ۲ الی ۴ هفته که معادل محتوای مضمون باشد و در ختم آمادگی سپری نمودن امتحان.

۳- په هغه صورت کې چې د محصلانو شمېر له پنځو تنو څخه ډېر کم وي، د اړوند دیپارتمنت له لورې محصل ته د انفرادي کار سپارل او په ټاکلي وخت کې د آزموینې اخیستل.

۴- د مضمون تعقیب (حضوري) یا انفرادي کار او د آزموینې اخیستل د سمستر د آزموینو له پیل کېدو څخه مخکې چې محصل په هغه کې قرار لري، صورت مومي.

(۳) پوهنځی د اړوند دیپارتمنت په مشوره د نه کرېډېټ د محصلانو د آزموینې اخیستلو مهال وېش ترتیبوي، د آزموینې اخیستلو څخه وروسته اړوند دیپارتمنت د آزموینې پایلې د یوې اونۍ په موده کې په رسمي ډول پوهنځي ته لېږي.

(۴) که چېرې محصل د یوه سمستر نیمایي کرېډېټونه بشپړ کړي وي، د هغه د آزموینې د نمرو اوسط د پاتې کرېډېټونو د بشپړېدو وروسته محاسبه کېږي.

(۵) که چېرې محصل د اخیستل شوې

۳- در صورتی که تعداد محصلان کمتراز پنج نفر باشند، سپردن کار انفرادی به محصل از طرف دیپارتمنت مربوط و اخذ امتحان در وقت معین آن.

۴- تعقیب مضمون (حضوری) یا کار انفرادی و اخذ امتحان قبل از شروع امتحانات سمستر که محصل در آن قرار دارد، صورت می‌گیرد.

(۳) پوهنځی به مشورهٔ دیپارتمنت مربوط تقسیم اوقات اخذ امتحان محصلان عدم کریدت را ترتیب نموده، بعد از ختم امتحان دیپارتمنت مربوط نتایج امتحان را در مدت یک هفته به صورت رسمی به پوهنځی ارسال می‌نماید.

(۴) هرگاه محصل نصف کریدت های یک سمستر را تکمیل نموده باشد، اوسط نمرات امتحان آن بعد از تکمیل کریدت های باقی مانده محاسبه می‌گردد.

(۵) هرگاه محصل در تمام مضامین

آزموينې په ټولـو مضــمونونو کــې د برياليتوب نمره اخيســتې وي، خــو د نمرو اوسط يې پوره کړی نه وي، بل سمستر ته ارتقاء کوي او هغه ته ليکلی خبرداری ورکول کېږي.

(۶)کــه چېرې محصل د محرومی يا د يوه يا څو مضمونو د نه کرېډټ لــه امله په هغه صورت کې چې ۵۰ سلنه کرېډټونه يې بشپړ کړي وي د دوه يم ځل لپاره د مضمون يا د انفرادي کار له بشپړولو څخه وروسته په يوه يــا دوو مضمونونو کې نه کرېډټ شي، يواځې د نه کرېډټ شوي يوه يا دوو مضمونو کې د دوه اونيو د چمتووالي په بهيــر کې د درېــيم ځــل لپــاره آزموينــه ورکوي.

(۷) محصل د نه کرېډټ په صــورت کې د درېيم ځل لپاره خپلو زده کړو ته دوام ورکوي او نه کرېډټ شوي يو يا دوه مضمونونه د زده‌کړې په پای کې د يوه سمستر لپاره د اړوند ټولگي لــه نورو محصلانو سره تعقيب کــړي او د سمستر په پای کې له نورو محصلانو

امتحان اخذ شده نمرۀ کامیابی گرفتــه ولی اوسط نمرات را پوره نکرده باشد، به سمســتر بعــدی ارتقــاء نمــوده و بـــه وی اخطـــار کتبـــی داده می‌شود.

(۶) هرگـــاه محصـــل بـــه علـــت محرومی یا عدم کریدت یک یا چنــد مضمون در صورتی کــه ۵۰ فیصــد کریـــدت هـــا را تکمیـــل نمـــوده باشد برای بار دوم بعــد از تکمیـــل مضمون یا کـــار انفــرادی در یـــک یا دو مضمون عدم کریـــدت گـــردد، صرف یک و یا دو مضــمون عـــدم کریدت شده را در جریـــان دو هفتـــه آمادگی بـــرای بـــار ســـوم امتحـــان می‌دهد.

(۷) محصـــل در صـــورت عـــدم کریـــدت بـــار ســـوم بـــه تحصـــیل خـــود ادامـــه داده و یـــک یـــا دو مضمون عدم کریدت شده را در ختم تحصیل برای یک سمستر بـــا ســـایر محصـــلان صـــنف مربـــوط تعقیـــب و درختم سمستر با سایر محصـــلان

سره آزموينه ورکوي. د يوه يا څو مضمونونو د نه کرېډټ په صورت کې د دې مقررې د درويشتمې مادې د حکم تابع کېږي.

(۸) د کورس له جوړېدو يا له انفرادي کار څخه وروسته، په دوه يم چانس کې له دوو څخه د زياتو مضمونونو نه کرېډټ د هماغه سمستر نه کرېډټ ګڼل کېږي او محصل نه کرېډټ شوي مضمونونه د بل کال په سمستر کې تکراروي.

(۹) د محصلانو راتلونکي آزموينې له ۱۰۰ نمرو څخه محاسبه کېږي.

(۱۰)که چېرې د مضمون د وروستنۍ آزموينې پايله د استاد له لوري نا بشپړه رپوټ ورکړل شوې وي او د صنفي آزموينې، کورني کار، تطبيقاتو يا د وروستنيو آزموينو يوه برخه يې بشپړه کړې نه وي د هماغه سمستر د نمرو د ټولګې اوسط د هماغه مضمون د پايلې تر بشپړېدو پورې نه محاسبه کېږي.

(۱۱) محصل مکلف دی نا بشپړ

امتحان می‌دهد. درصورت عدم کریدت یک یا دومضمون تابع حکم مادهٔ بیست و سوم این مقرره می‌گردد.

(۸) عدم کریدت بیشتر از دو مضمون در مرتبهٔ دوم بعد از تدویر کورس یا کار انفرادی، عدم کریدت همان سمستر تلقی گردیده و محصل مضامین عدم کریدت شده را درسمستر سال بعدی تکرار می‌نماید.

(۹) امتحانات بعدی محصلان از ۱۰۰ نمره محاسبه می‌گردد.

(۱۰) هرگاه نتیجهٔ امتحان نهایی مضمون از جانب استاد نا تکمیل گزارش داده شده باشد و یک قسمت امتحان صنفی، کارخانگی، تطبیقات یا امتحانات نهایی را تکمیل نکرده باشد اوسط مجموعی نمرات همان سمستر الی تکمیل نتیجهٔ همان مضمون محاسبه نمی‌گردد.

(۱۱) محصل مکلف است مضمون

مضمون د بل سمستر تر پيل پورې بشپړ کړي او رپوټ يې اړوند ديپارتمنت يا پوهنځي ته وړاندې کړي.

## د سمستر تکرار

**شلمه ماده:**

(۱) د يوه سمستر د کريډټونو له نيمايي څخه زيات نه کريډټ، محروم او د آزموينې غايب چې محصل په هغه کې نوم ليکلی دی، د هماغه سمستر نه کريډټ ګڼل کيږي. يوازې هغه مضمونونه چې په هغو کې نه کريډټ پاتې شوی دی په بل کال کې په عين سمستر کې تعقيب او د کريډټونو اوسط يې د سمستر د مضمونونو له مجموعې څخه محاسبه کيږي.

(۲) که چيرې محصل د سمستر په بهير کې حاضري بشپړه او د سمستر منځنۍ آزموينې يې تيرې کړې وي او د آزموينې په ورځ له مضمونونو څخه په يوه کې د غيرمترقبه پيښو له امله ونه کړای شي چې حاضر شي او مؤجه

نا تکميل را الی آغاز سمستر بعدی تکميل نموده و گزارش آن را به ديپارتمنت يا پوهنځی مربوط ارائه نمايد.

## تکرار سمستر

**مادۀ بيستم:**

(۱) عدم کريدت، محروم و غايب امتحان در بيشتر از نصف کريدت های يک سمستر که محصل در آن ثبت نام کرده، عدم کريدت همان سمستر محسوب می‌گردد. صرف مضامينی که در آن عدم کريدت مانده است درسال بعدی در عين سمستر تعقيب و اوسط کريدت های آن از سرجمع مضامين سمستر محاسبه می‌گردد.

(۲) هرگاه محصل در جريان سمستر حاضری را تکميل و امتحانات وسط سمستر را سپری نموده باشد و در يکی از مضامين در روز امتحان به اثر حوادث غير مترقبه

اسناد او مدرکونه يې د پوهنتون يا د لوړو زده‌کړو د مؤسسې د آزموينو د کمېټې له لوري تأييد شوي وي، و نه شي کړای وړاندې کړي، د نوموړي مضمون آزموينه په معذرتي ډول د سمستر د آزموينو په پای کې تېروي او پايله يې په لومړي چانس کې د محاسبې وړ ده.

## دايمي منفکي

**يو ويشتمه ماده:**

په هغه صورت کې چې د زده‌کړې په دوران کې په عين سمستر کې د کرېډېټونو له نيمايي څخه زيات دوه ځلې نه کرېډېټ دوه ځلې تکرار شي، له اړوندې لوړو زده کړو مؤسسې څخه د محصل د دايمي منفکي لامل کېږي.

## د نمرو اوسط نه بشپړول

**دوه ويشتمه ماده:**

(۱) د سمستر د نمرو د عمومي اوسط نه بشپړول په لومړي ځل کې د تدريسي مديريت له لوري د پايلو په

حاضر شده نتواند و اسناد و مدارک مؤجه که از طرف کميتهٔ امتحانات پوهنتون يا مؤسسهٔ تحصيلات عالی تأييد شده باشد، ارائه کرده نتواند امتحان مضمون مذکور را به شکل معذرتی در ختم امتحانات سمستر سپری نموده و نتيجهٔ آن در چانس اول قابل محاسبه می‌باشد.

## منفکی دايمی

**مادهٔ بيست و يکم:**

دو مرتبه عدم کريدت در بيشتر از نصف کريدت ها در عين سمستر درصورتی که در دوران تحصيل دوبار تکرار گردد، سبب منفکی دايمی محصل از مؤسسهٔ تحصيلات عالی مربوط می‌شود.

## عدم تکميل اوسط نمرات

**مادهٔ بيست و دوم:**

(۱) عدم تکميل اوسط عمومی نمرات سمستر در بار اول سبب اخطار شفاهی محصل با

جدول کې په درج سره د محصل د شفاهي خبرداري لامل او په دوه یم ځل کې نه بشپړول په هغه صورت کې چې په دوو پرله پسې سمسترونو کې وي، د پایلو په جدول کې په درج سره د لیکلي خبرداري او له محصل څخه د لیکلې ژمنې د اخیستلو لامل کېږي.

(۲) په درېیم ځل کې د نمرو اوسط نه بشپړول چې په درېو پرله پسې سمسترونو کې وي، محصل د نمرو د اوسط د بشپړولو په منظور د هغو دوو مضمونونو د آزموینې په بیا تېرولو مکلف دی چې په وروستني سمستر کې ( د نمرو اوسط نه بشپړول) کې چې په هغو کې یې تر ټولو کمې نمرې اخیستې وي.

## د زده‌کړې د دورې موده

**درویشتمه ماده:**

د وړیا زده‌کړې زیات نه زیاته دوره په څلور کلنو پوهنځیو کې د ټاکلې دورې له دوو کلونو څخه او له څلورو کلنو زیاتو پوهنځیو کې له درېوو

درج در جدول نتایج و عدم تکمیل در بار دوم درصورتی که در دو سمستر پیهم باشد، سبب اخطار کتبی محصل با درج در جدول نتایج از طرف مدیریت تدریسی و اخذ تعهد کتبی از محصل می‌گردد.

(۲) عدم تکمیل اوسط نمرات در بار سوم که در سه سمستر پیهم باشد، محصل به منظور تکمیل اوسط نمرات مکلف به سپری نمودن امتحان دو بارهٔ دو مضمونی که در آخرین سمستر (عدم تکمیل اوسط نمرات)که درآن کمترین نمره را اخذ نموده، می‌باشد.

## مدت دورهٔ تحصیل

**مادهٔ بیست و سوم:**

حداکثر دورهٔ تحصیل رایگان در پوهنځی های چهار ساله بیشتر از دو سال و در پوهنځی های بیشتر از چهار سال بیشتر از سه سال از دورهٔ معینه

کلونو څخه زیاتېدای نه شي.

د نمرو تشریح

څلېریشتمه ماده:

(۱) د بریالیتوب د نمرو تشریح له A څخه تر D پورې په لاندې ډول دی:

۱- ۹۰ تر ۱۰۰ A .

۲- ۸۰ تر ۸۹ B .

۳- ۷۰ تر ۷۹ C .

۴- ۵۵ تر ٦۹ D .

(۲) له ۵۵ څخه کمې نمرې نه کرېډټ ګڼل کېږي او په F توري ښودل کېږي.

د فورمې ډولونه

پنځه ویشتمه ماده:

(۱) تدریسي او د محصلانو مدیریتونه د ټاکل شوو مواردو د ثبت او د خپلو اجراآتو د مستند کولو په منظور له لاندې فورمو څخه ګټه اخلي:

۱- د محصل د ژمنلیک فورمه.

۲- د نویو شمولانو فورمه.

۳- د سمستر د مضمونونو د ټاکلو فورمه.

بوده نمی‌تواند.

تشریح نمرات

مادۀ بیست و چهارم:

(۱) تشریح نمرات کامیابی از A الی D قرار ذیل می‌باشد:

۱- ۹۰ الی۱۰۰ A .

۲- ۸۰ الی ۸۹ B.

۳- ۷۰ الی ۷۹ C.

۴- ۵۵ الی ٦۹ D.

(۲) نمرات کمتر از ۵۵ عدم کریدت محسوب گردیده و به حرف F نشان داده می‌شود.

انواع فورم

مادۀ بیست و پنجم:

(۱) مدیریت های تدریسی و محصلان به منظور ثبت موارد تعیین شده و مستند سازی اجراآت خویش از فورم های ذیل استفاده می‌نمایند:

۱- فورم تعهد نامۀ محصل.

۲- فورم جدید الشمولان.

۳- فورم انتخاب مضامین سمستر.

۴- د سمستر لـه فعـالیتونو سـره د ښوونیزې پالیسۍ او اصلي او فرعي عنوانونو فورمه.

۵- د میاشتنۍ حاضرۍ فورمه.

٦- په لیلیه کې د شمولیت فورمه.

۷- د آزموینې د شقې فورمه.

۸- د پایلو فورمه.

۹- د محصل د زده‌کړه ییز فعالیت فورمه.

۱۰- د نمرو د ترانسکریپت فورمه.

۱۱- د کریډټ د سیستم د ښوونیز پلان فورمه.

(۲) د لوړو زده کړو وزارت د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوې فورمې طرحه او تصویبوي.

## څلورم فصل

## د آزموینې اخیستلو ډول

**د لوړو زده کړو د مؤسسې د آزموینو کمېټه**

شپږ ویشتمه ماده:

(۱) هر پوهنځی د سمستر په پای کې د آزموینو د اخیستلو په منظور

۴- فورم پالیسی آموزشی، عناوین اصلی و فرعی با فعالیت های سمستر.

۵- فورم حاضری ماهوار.

٦- فورم شمولیت به لیلیه.

۷- فورم شقهٔ امتحان.

۸- فورم نتایج.

۹- فورم فعالیت تحصیلی محصل.

۱۰- فورم ترانسکریپت نمرات.

۱۱- فورم پلان تعلیمی سیستم کریدت.

(۲) وزارت تحصیلات عالی فورم های مندرج فقرهٔ (۱) این ماده را طرح و تصویب می‌نماید.

## فصل چهارم

## طرز اخذ امتحان

**کمیتهٔ امتحانات مؤسسهٔ تحصیلات عالی**

مادهٔ بیست و ششم:

(۱) به منظور اخذ امتحانات در ختم سمستر هر پوهنځی تحت

د پوهنځي د رئیس تر ریاست لاندې یا د لوړو زده کړو د مؤسسې د محصلانو د چارو د مرستیال تر ریاست لاندې د لوړو زده‌کړو د مؤسسې د آزموینو کمېټه رامنځ ته کېږي چې په آزموینو پورې له اړوندو چارو څخه څارنه کوي.

(۲) آزموینې د لوړو زده کړو د مؤسسې د آزموینو د کمېټې له تصمیم سره سم په لیکلي، تقریري یا مختلط ډول اخیستل کېږي.

(۳) د سمستر د وروستنۍ آزموینې لږترلږهٔ وخت ۶۰ دقیقې او زیات نه زیات یې دوه ساعته دی. په هغه صورت کې چې زیاتې مودې ته اړتیا وي، د لوړو زده‌کړو د مؤسسې د آزموینو کمېټه په دې هکله تصمیم نیسي.

(۴) د وروستنۍ آزموینې پارچې د لوړو زده‌کړو د مؤسسې د آزموینو کمېټې په شتون د اړوند مضمون د استادانو له لوري د آزموینو کمېټې په خونه کې کتل کېږي.

ریاست رئیس پوهنځی مؤسسهٔ تحصیلات عالی یا تحت ریاست معاون امور محصلان کمیتهٔ امتحانات مؤسسهٔ تحصیلات عالی ایجاد گردیده که از امور مربوط به امتحانات نظارت به عمل می‌آورد.

(۲) امتحانات نظر به تصمیم کمیتهٔ امتحانات مؤسسهٔ تحصیلات عالی به شکل تحریری، تقریری یا مختلط اخذ می‌گردد.

(۳) حداقل وقت امتحان نهایی سمستر ۶۰ دقیقه و حداکثر آن دو ساعت می‌باشد. درصورتی که ضرورت به مدت بیشتر باشد، کمیتهٔ امتحانات مؤسسهٔ تحصیلات عالی در مورد تصمیم اتخاذ می‌نماید.

(۴) پارچه های امتحان نهایی در حضور داشت کمیتهٔ امتحانات مؤسسهٔ تحصیلات عالی از طرف استادان مضمون مربوط در اتاق کمیتهٔ امتحانات چک می‌گردد.

**د پوښتنو شمېر**

**اووه ويشتمه ماده:**

(۱) د سمستر د وروستۍ آزموينې د پوښتنو شمېر د مضمون د ډول او ځانګې له مخې له ۲۰ تر ۴۰ پوښتنې ټاکل کېږي. په ځانګړو شرايطو کې د دې مقررې د شپږويشتمې مادې د (۱) فقرې درج شوې کمېټه د پوښتنو په هکله تصميم نيسي.

(۲) د سمستر د وروستۍ آزموينې د اخيستلو لپاره د مضمون او ځانګې د ډول له مخې څلور ځوابه، لنډ تشريحي، تحليلي او محاسبوي پوښتنې، له آزموينې څخه يوه ورځ مخکې چمتو کېږي.

**د وروستۍ آزموينې پايلې**

**اته ويشتمه ماده:**

(۱) د وروستۍ آزموينې پايلې د آزموينې له اخيستلو څخه وروسته د ۳ تر ۵ ورځو په ترځ کې په رسمي ډول اعلانېږي.

(۲) د سمستر د وروستۍ آزموينې

**تعداد سوالات**

**مادۀ بيست و هفتم:**

(۱) تعداد سوالات امتحان نهايی سمستر از ۲۰ الی ۴۰ سوال نظر به نوعيت مضمون و رشته تعيين می‌گردد. در شرايط خاص کميتۀ مندرج فقرۀ (۱) مادۀ بيست و ششم اين مقرره در مورد سوالات تصميم اتخاذ می‌نمايد.

(۲) جهت اخذ امتحان نهايی سمستر، سوالات چهار جوابه، تشريحی کوتاه، تحليلی و محاسبوی نظر به نوعيت مضمون و رشته، يک روز قبل از امتحان آماده می‌گردد.

**نتايج امتحان نهايی**

**مادۀ بيست و هشتم:**

(۱) نتايج امتحان نهايی بعد از اخذ امتحان در خلال ۳ الی ۵ روز به صورت رسمی اعلان می‌گردد.

(۲) بعد از اعلان نتايج امتحان نهايی

د پایلو له اعلان څخه وروسته ۳ کاري ورځې د پارچې د بیا کتنې لپاره ټاکل کېږي، محصل کولای شي د پایلو له اعلان څخه وروسته په دې موده کې خپل لیکلی غوښتنلیک د بیاکتنې لپاره د اړوند پوهنځي ریاست ته وړاندې کړي.

(۳) که چېرې په یوه مضمون کې د ناکامو محصلانو شمېر له ۳۰ سلنې زیات وي، د لوړو زده‌کړو د مؤسسې د آزموینو کمېټه له اړونده دیپارتمنت سره د هغه عوامل په کره توګه پلټي او د هغو په منطقي حل کې لازم اقدامونه تر سره کوي.

(۴) د سمستر د وروستنۍ آزموینې پارچې لږترلږهٔ د یوه سمستر د مودې لپاره د آزموینو په کمېټه کې ساتل کېږي او له هغې وروسته د آزموینو دکمېټې او د اړوند دیپارتمنت د ګډ پلاوي په شتون کې سوځول کېږي.

سمستر۳ روز کاری جهت تجدید نظر پارچه تعیین می‌گردد، محصل می‌تواند در این مدت بعد از اعلان نتایج، درخواست تحریری خویش را جهت تجدید نظر به ریاست پوهنځی مربوط ارائه نماید.

(۳) هرگاه تعداد محصلان ناکام در یک مضمون بیشتر از ۳۰ فیصد باشد، کمیتهٔ امتحانات مؤسسهٔ تحصیلات عالی با دیپارتمنت مربوط عوامل آن را طور دقیق جستجو نموده و در حل منطقی آن اقدامات لازم را اتخاذ می‌نماید.

(۴) پارچه های امتحان نهایی سمستر حداقل برای مدت یک سمستر درکمیتهٔ امتحانات نگهداری و بعد از آن درحضور داشت هیئت مشترک کمیتهٔ امتحانات و دیپارتمنت مربوط حریق می‌گردد.

## پنځم فصل

## تبدیلي

### د دولتي لوړو زده‌کړو د مؤسسو د محصلانو تبدیلي

**نهه ویشتمه ماده:**

(۱) نوي شامل شوي محصلان له یوې زده‌کړه ییزې مؤسسې څخه بلې زده‌کړه ییزې مؤسسې یا له یوې زده‌کړه ییزې څانګې څخه بلې زده‌کړه ییزې ته د تبدیلي حق نه لري.

(۲) د نارینوو محصلانو تبدیلي په ورځنیو برنامو کې له یوې زده کړه ییزې مؤسسې څخه بلې زده‌کړه ییزې مؤسسې ته مجاز نه دی.

(۳) د هغو ښځینه وو محصلانو تبدیلي چې لومړی سمستر یې په بریالیتوب سره تېر کړی دی، له یوې زده‌کړه ییزې مؤسسې څخه بلې زده‌کړه ییزې مؤسسې ته په لاندې شرطونو سره صورت مومي:

۱- د اړوندو پوهنځیو د تدریسي مدیریتونو له لارې د غوښتنلیک وړاندې

## فصل پنجم

## تبدیلی ها

### تبدیلی محصلان مؤسسات تحصیلات عالی دولتی

**مادهٔ بیست و نهم:**

(۱) محصلان جدیدالشمول حق تبدیلی از یک مؤسسهٔ تحصیلی به مؤسسهٔ تحصیلی دیگر یا از یک رشتهٔ تحصیلی به رشتهٔ تحصیلی دیگر را ندارند.

(۲) تبدیلی محصلان ذکور در برنامه های روزانه از یک مؤسسهٔ تحصیلی به مؤسسهٔ تحصیلی دیگر مجاز نمی‌باشد.

(۳) تبدیلی محصلان اناث که سمستر اول را مؤفقانه سپری نموده اند، از یک مؤسسهٔ تحصیلی به مؤسسهٔ تحصیلی دیگر تحت شرایط ذیل صورت می‌گیرد:

۱- ارائهٔ درخواست و تکمیل فورم تبدیلی از طریق مدیریت های تدریسی

کول او د تبديلي د فورمې بشپړول.
۲- يواځې هماغې ځانگې، ټولگي او سمستر ته د تبديلي ترسره کول.
۳- د دواړو زده‌کړه ييزو مؤسسو د هوکړې شتون.
۴- د اړوندې زده کړه ييزې ځانگې د کانکور د معياري نمرې بشپړول چې په هماغه کال کې د کانکور په آزموينه کې شامل شوې دي.
۵- د زده کړې د دوام حق لرل او له دوو مضمونونو څخه زيات نه کرېډټ نه لرل.
(۴) د شپې له برخې څخه د ورځې برخې ته د محصلانو تبديلي صورت موندلای نه شي.
(۵) د محصلانو تبديلي د ورځې له برخې څخه د شپې برخې ته يا د يوې زده‌کړه‌ييزې مؤسسې له شپې برخې څخه د بلې زده‌کړه‌ييزې مؤسسې شپې برخې ته د لوړو زده‌کړو د اړوندې مؤسسې له لارې په لاندې شرطونو سره صورت مومي:
۱- د غوښتنليک وړاندې کول او

پوهنځی های مربوط.
۲- اجرای تبدیلی صرف به عین رشته، صنف و سمستر.
۳- موجودیت موافقهٔ هر دو مؤسسهٔ تحصیلی.
۴- تکمیل نمودن نمرهٔ معیاری کانکور رشتهٔ تحصیلی مربوط که در همان سال شامل امتحان کانکور گردیده است.
۵- داشتن حق ادامهٔ تحصیل و نداشتن عدم کریدت بیشتر از دو مضمون.
(۴) تبدیلی محصلان از بخش شبانه به بخش روزانه صورت گرفته نمی‌تواند.
(۵) تبدیلی محصلان از بخش روزانه به بخش شبانه یا از بخش شبانهٔ یک مؤسسهٔ تحصیلی به بخش شبانهٔ مؤسسهٔ تحصیلی دیگر از طریق مؤسسهٔ تحصیلات عالی مربوط تحت شرایط ذیل صورت می‌گیرد:
۱- ارائهٔ درخواست و تکمیل فورم

د اړوندې زده‌کړه‌ییزې مؤسسې ته او د تبدیلي د فورمې بشپړول.

۲- د لوړو زده کړو د مؤسسو د هوکړې شتون.

۳- په شپې برخه کې د تبدیلي وړ زده‌کړه ییزې څانگې شتون.

۴- د زده‌کړې د دوام حق لرل او له دوو مضمونونو څخه زیات د نه کرېډېټ نه لرل.

(۶) د دې مادې په (۵) فقره کې د درج شوو محصلانو تبدیلي په هماغې زده‌کړه ییزې مؤسسې یا د مرکز او ولایتونو د لوړو زده‌کړو د مؤسسو په منځ کې یواځې هماغې زده‌کړه‌ییزې څانگې، ټولگي او سمستر ته صورت موندلای شي.

## د خصوصي لوړو زده‌کړو د مؤسسو د محصلانو تبدیلي

دېرشمه ماده:

(۱) د خصوصي زده‌کړه‌ییزو مؤسسو په د ننه کې له یوې څانگې څخه بلې څانگې ته د محصلانو تبدیلي او د نوو

تبدیلی مؤسسهٔ تحصیلی مربوط.

۲- موجودیت موافقهٔ مؤسسات تحصیلات عالی.

۳- موجودیت رشتهٔ تحصیلی مورد تبدیلی در بخش شبانه.

۴- داشتن حق ادامهٔ تحصیل و نداشتن عدم کریدت بیشتر از دو مضمون.

(۶) تبدیلی محصلان مندرج فقرهٔ (۵) این ماده صرف به عین رشته، صنف و سمستر تحصیلی در عین مؤسسهٔ تحصیلی یا در بین مؤسسات تحصیلات عالی مرکز و ولایات صورت گرفته می‌تواند.

## تبدیلی محصلان مؤسسات تحصیلات عالی خصوصی

مادهٔ سی ام:

(۱) تبدیلی محصلان در داخل مؤسسهٔ تحصیلی خصوصی از یک رشته به رشتهٔ دیگر و تبدیلی

شامل شوو محصلانو تبـديلي د يـوۀ سمستر تر پای ته رسېدو پورې صورت موندلای نه شي.

(۲) د زده‌کـړې د وروسـتي‌کال محصلان په هماغه ولایت کې له يوې خصوصي زده کړه‌يیزې مؤسسې څخه بلې زده کړه‌يیزې مؤسسې ته تبدیلېدای نه شي.

(۳) د زده کړې په وروستي کال کې د خصوصي لوړو زده کړو له انستیتوت څخه خصوصي پوهنتون ته تبديلي مجاز نه دی.

(۴) د خصوصي لوړو زده‌کـړو لـه مؤسسو څخه دولتي لـوړو زده‌کـړو مؤسسو ته د محصلانو تبدیلي مجاز نه دی.

(۵) د دولتي لوړو زده‌کړو له مؤسسو څخه د خصوصي لوړو زده‌کړو مؤسسو ته د محصلانو تبديلي تر دغو شرطونو لاندې صورت مومي:

۱- د تبديلي د فورمې بشپړول.

۲- د خصوصي زده‌کړه ييزې مؤسسې هوکړه.

محصـلان جدیدالشـمول الـی ختم یک سمسـتر صـورت گرفتـه نمی‌تواند.

(۲) محصـلان سـال آخـر تحصیل از یک مؤسسـۀ تحصـیلی خصوصی به مؤسسۀ تحصیلی دیگر در عـین ولایـت تبـدیل شـده نمی‌توانند.

(۳) تبدیلی از انستیتوت تحصـیلات عالی خصوصی به پوهنتون خصوصـی در سـال آخـر تحصـیل مجـاز نمی‌باشد.

(۴) تبدیلی محصـلان از مؤسسـات تحصیلات عالی خصوصی به مؤسسات تحصـیلات عـالی دولتـی مجـاز نمی‌باشد.

(۵) تبدیلی محصـلان از مؤسسـات تحصیلات عالی دولتی به مؤسسـات تحصیلات عالی خصوصی تحت شرایط ذیل صورت می‌گیرد:

۱- تکمیل فورم تبدیلی.

۲- موافقـۀ مؤسسـۀ تحصـیلی خصوصی.

۳- يواځې هماغې زده‌کړه ييزې ځانګې، ټولګي او سمستر ته د تبديلۍ ترسره کول.

(٦) له يوې خصوصي زده‌کړه ييزې مؤسسې څخه بلې زده‌کړه ييزې خصوصي مؤسسې ته د محصلانو تبديلي د يوه سمستر له بشپړولو څخه وروسته تر دغو شرطونو لاندې صورت مومي:

۱- د تبديلي د فورمې بشپړول.

۲- د هغې زده‌کړه ييزې مؤسسې هوکړه چې هغې ته تبديلي صورت مومي.

۳- يواځې هماغې زده کړه ييزې ځانګې، ټولګي او سمستر ته تبديلي.

۴- د زده کړې د دوام حق لرل او له دوو مضمونونو څخه زيات د نه کرېډټ نه لرل.

## د تبديليو وخت

**يودېرشمه ماده:**

محصل د زده‌کړې په بهيرکې يواځې يو ځل تبديلېدای شي، دغه تبديلۍ

۳- اجرای تبديلی صرف به عين رشته، صنف و سمستر تحصيلی.

(٦) تبديلی محصلان از يک مؤسسهٔ تحصيلی خصوصی به مؤسسهٔ تحصيلی خصوصی ديگر بعد از تکميل يک سمستر تحت شرايط ذيل صورت می‌گيرد:

۱- تکميل فورم تبديلی.

۲- موافقهٔ مؤسسهٔ تحصيلی که به آن تبديلی صورت می‌گيرد.

۳- تبديلی صرف به عين رشته صنف و سمستر تحصيلی.

۴- داشتن حق ادامهٔ تحصيل و نداشتن عدم کريدت بيشتر از دو مضمون.

## زمان تبديلی ها

**مادهٔ سی و يکم:**

محصل در جريان دورهٔ تحصيل صرف يک بار تبديل شده می‌تواند، اين

په کال کې یو ځل د ژمي د رخصـــتیو په ورځـــو (د مرغــومي او ســـلواغې په میاشتو) کې صورت مومي.

**له هېواده بهر د محصلانو تبدیلي**

**دوه دېرشمه ماده:**

(۱) له هېواده بهر د لـــوړو زده‌کـــړو له مؤسسو څخه د هېواد په د ننه کـــې د لوړو زده‌کړو مؤسسو تـــه د افغـــان محصل تبدیلي تر دغو شرطونو لاندې صورت مومي:

۱- په اړونده څانگه کې د زده کړې د دوام حق لرل.

۲- په اړوند هېواد کې د افغانســـتان اسلامي جمهوریت د سیاسي او قونسلي نمایندگۍ تصدیق او د بهرنیـــو چـــارو وزارت تأیید.

(۲) له هېواده بهر د لوړو زده کـــړو مؤسسه، چې محصل له هغـــې څخـــه د تبدیلۍ غوښـــتونکی دی، قـــانوني فعالیت ولري.

تبدیلی‌ها سال یک بار در ایام رخصتی زمستانی ( ماه های جـــدی و دلـــو) صورت می‌گیرد.

**تبدیلی محصلان خارج از کشور**

**مادهٔ سی و دوم:**

(۱) تبدیلی محصل افغانی از مؤسسات تحصیلات عالی خارج از کشور بـــه مؤسسات تحصیلات عالی داخل کشور تحـــت شـــرایط ذیـــل صـــورت می‌گیرد:

۱- داشتن حق ادامهٔ تحصیل در رشتهٔ مربوط.

۲- تصدیق نمایندگی سیاسی و قونسلی جمهـــوری اســـلامی افغانســـتان در کشـــور مربـــوط و تأییـــد وزارت امور خارجه.

(۲) مؤسسهٔ تحصیلات عالی خارج از کشور کـــه محصـــل از آن خواهـــان تبدیلی است فعالیت قـــانونی داشـــته باشد.

## د زده‌کړه ييزې رشتې بدلون

**دري دېرشمه ماده:**

هغه محصلان چې د دولتي او ګروپي بورسيو له لارې له هېواده بهر زده‌کړې کوي، د هغوی د زده‌کړه ييزې رشتې بدلون جواز نه لري.

## له هېواده بهر د زده کړه ييزو سندونو معادلت

**څلور دېرشمه ماده:**

(۱) وړاندې شوي سندونه د معادلت د ټاکلو او د زده‌کړې د دوام په غرض له اړوند تقنيني سندونو سره سم، له پړاوونو تېرېږي.

(۲) افغاني محصل چې له هېواده بهر د خصوصي لوړو زده‌کړو په مؤسسه کې زده‌کړه کوي، د سندونو او معادلت د پړاوونو له تېرولو وروسته په هېواد کې د ننه د خصوصي لوړو زده‌کړو مؤسسو ته ورپېژندل کېدای شي.

(۳) د افغانستان تابعيت لرونکی محصل چې له هېواده بهر په دولتي

## تغيير رشتۀ تحصيلی

**مادۀ سی و سوم:**

محصلانی که از طريق بورسيه های دولتی و گروپی در خارج از کشور تحصيل مینمايند، تغيير رشتۀ تحصيلی آن ها مجاز نمیباشد.

## معادلت اسناد تحصيلی خارج از کشور

**مادۀ سی و چهارم:**

(۱) اسناد ارائه شده غرض تعيين معادلت و ادامۀ تحصيل مطابق اسناد تقنينی مربوط طی مراحل میگردد.

(۲) محصل افغانی که در مؤسسۀ تحصيلات عالی خصوصی خارج از کشور تحصيل مینمايد، بعد از طی مراحل اسناد و معادلت به مؤسسات تحصيلات عالی خصوصی در داخل کشور معرفی شده میتواند.

(۳) محصل دارای تابعيت افغانستان که در مؤسسۀ تحصيلی دولتی

زده‌کړه یېزې مؤسسې کې زده‌کړه کوي په هغه صورت کې چې د خپلې کورنۍ متکفل وي، د سندونو او معادلت د پړاوونو له تېرولو وروسته په هېواد کې د ننه دولتي زده‌کړه یېزې مؤسسې ته تبدیلېږي.

(۴) د افغانستان د دیپلوماتانو اولادونه چې له هېواده بهر په زده‌کړو بوخت وي د ماموریت له پای ته رسېدو او افغانستان ته له راستنېدو وروسته په بهر کې د سیاسي او قونسلي نمایندګۍ له لارې د تأیید شوو سندونو له مخې لـه پولې هاخوا د سندونو ارزونې د ریاست له لارې د پړاوونو او معادلت له تېرولو وروسته په هماغه څانګه، ټولګي او سمستر کې دولتي لوړو زده‌کړو مؤسسو ته ورپېژندل کېږي.

(۵) هغه مضمونونه او کریډټونه چې محصل یې له هېواده په بهر کې اخلي له معادلت وروسته، د هېواد په دننه زده‌کړه یېزې مؤسسې کې د لېږد وړ دي او د زده‌کړې په دوره کې شمېرل کېږي.

خارج از کشور تحصیل می‌نماید در صورتی که متکفل فامیل خود باشد، بعد از طی مراحل اسناد و معادلت به مؤسسهٔ تحصیلی دولتی در داخل کشور تبدیل می‌گردد.

(۴) فرزندان دیپلومات های افغانستان که در خارج از کشور مصروف تحصیل باشند بعد از ختم ماموریت و برگشت به افغانستان برویت اسناد تأیید شده از طریق نمایندگی سیاسی و قونسلی در خارج بعد از طی مراحل و معادلت از طریق ریاست ارزیابی اسناد بیرون مرزی در عین رشته، صنف و سمستر به مؤسسات تحصیلات عالی دولتی معرفی می‌گردند.

(۵) مضامین و کریدت هایی که محصل در خارج از کشور اخذ می‌نماید بعد از معادلت در مؤسسهٔ تحصیلی داخل کشور قابل انتقال بوده و در دورهٔ تحصیل محاسبه می‌شود.

## د دولتي نيمه لوړو زده‌کړو له مؤسسو څخه دولتي لوړو زده‌کړو مؤسسو ته تبديلي

**پنځه دېرشمه ماده:**

(۱) له دولتي نيمه لوړو زده‌کړو مؤسسو څخه د دولتي لوړو زده‌کړو مؤسسو ته تبديلي مجاز نه دی.

(۲) د لوړو زده‌کړو له مؤسسو څخه د نيمه لوړو زده‌کړو مؤسسو ته تبديلي د اړوندو مؤسسو د هوکړې په صورت‌کې ترسره کېدای شي.

## د محصل مکلفيت

**شپږ دېرشمه ماده:**

محصل د تبديلي په صورت کې، په دوه يمه زده‌کړه ييزه مؤسسه کې د دې مقررې له حکمونو سره سم، د کمبود مضمون يا مضمونونو په بشپړولو مکلف دی.

## تبديلی از مؤسسات تحصيلات نيمه عالی دولتی به مؤسسات تحصيلات عالی دولتی

**مادهٔ سی و پنجم:**

(۱) تبديلی از مؤسسات تحصيلات نيمه عالی دولتی به مؤسسات تحصيلات عالی دولتی مجاز نمی‌باشد.

(۲) تبديلی از مؤسسات تحصيلات عالی به مؤسسات نيمه عالی در صورت موافقه مؤسسات ذيربط صورت گرفته می‌تواند.

## مکلفيت محصل

**مادهٔ سی و ششم:**

محصل در صورت تبديلی، مکلف به تکميل مضمون يا مضامين کمبود، مطابق احکام اين مقرره در مؤسسهٔ تحصيلی دومی می‌باشد.

## شپږم فصل
## د لوړو زده‌کړو په مؤسسو کې شاملېدل

### د دولسمو ټولګیو فارغانو ورپېژندل او شاملېدل

**اووه دېرشمه ماده:**

(۱) د ښوونځیو د دولسمو ټولګیو فارغان په بریالیتوب سره د کانکور له آزموینې تېرولو وروسته د لوړو زده‌کړو مؤسسو ته ورپېژندل او شاملېږي.

(۲) د ښوونځیو د دوولسمو ټولګیو فارغان کولای شي د اړوندې مقررې له حکمونو سره سم، د شپې د کانکور آزموینې په بریالیتوب سره له تېرولو وروسته د لوړو زده‌کړو د مؤسسو د شپې په برنامو کې شامل شي.

(۳) د آزموینو د ملي ادارې له لوري د کانکور آزموینه اخیستل کېږي، د ښوونځیو د دولسمو ټولګیو فارغان د ورځې لوړو زده‌کړو د برنامو

## فصل ششم
## شمولیت در مؤسسات تحصیلات عالی

### معرفی و شمولیت فارغان صنوف دوازدهم

**مادهٔ سی و هفتم:**

(۱) فارغان صنوف دوازدهم مکاتب بعد ا زسپری نمودن مؤفقانهٔ امتحان کانکور به مؤسسات تحصیلات عالی معرفی و شامل می‌گردند.

(۲) فارغان صنوف دوازدهم مکاتب می‌توانند در برنامه های تحصیلات عالی شبانهٔ مؤسسات تحصیلات عالی بعد از سپری نمودن مؤفقانهٔ امتحان کانکور شبانه مطابق احکام مقررهٔ مربوط شامل شوند.

(۳) امتحان کانکور از طرف ادارهٔ ملی امتحانات اخذ می‌گردد، فارغان صنوف دوازدهم مکاتب سه بار حق شمولیت درکانکور

په کانکور کې درې ځلې د ګډون حق لري. د خصوصي لوړو زده‌کړو د مؤسسو د کانکور ازموینه له دې حکم څخه مستثنی ده.

## د څوارلسمو ټولګیو د فارغانو جذب

اته دېرشمه ماده:

(۱) د تخنیکي او مسلکي ښوونو د څوارلسمو ټولګیو فارغان د ۸۰ سلنې د اوسط نمرو په بشپړولو، د یوه کال په تنزیل، په بریالیتوب سره د اختصاصي آزموینې له تېرولو وروسته د لوړو زده‌کړو په مؤسسو کې د ظرفیت د شتون په پام کې نیولو سره په اړوندو څانګو کې جذبېږي.

(۲) د طبي نیمه لوړو زده‌کړو مؤسسو فارغان له یوه کال تنزیل د ۸۰ سلنې نمرو د اوسط په بشپړولو او یواځې په اړوندو څانګو کې په بریالتوب سره د اختصاصي آزموینې له تېرولو څخه وروسته په اړوندو رشتوکې د ظرفیت د شتون په پام کې نیولو سره د طبي

برنامه های تحصیلات عالی دولتی روزانه را دارند.امتحان کانکور شبانهٔ مؤسسات تحصیلات عالی خصوصی از این حکم مستثنی می‌باشد.

## جذب فارغان صنوف چهاردهم

مادهٔ سی و هشتم:

(۱) فارغان صنوف چهاردهم تعلیمات تخنیکی و مسلکی با تکمیل ۸۰ فیصد اوسط نمرات، با یکسال تنزیل بعد از سپری نمودن مؤفقانهٔ امتحان اختصاصی، با در نظرداشت موجودیت ظرفیت در مؤسسات تحصیلات عالی در رشته های مربوط جذب می‌گردند.

(۲) فارغان مؤسسات نیمه عالی طبی با تکمیل ۸۰ فیصد اوسط نمرات با یک سال تنزیل بعد از سپری نمودن مؤفقانهٔ امتحان اختصاصی صرف در رشته های مربوط با در نظرداشت موجودیت ظرفیت در رشته های مربوط در مؤسسات تحصیلات عالی طبی

لوړو زده کړو په مؤسسو کې جذبیږي.

(۳) د ښوونکي د روزنې د مؤسسو د څوارلسمو ټولګیو فارغان د نمرو د سلنې له په پام کې نیولو څخه پرته د ښوونې او روزنې د داخل خدمت او د شپې پوهنځیو په ځانګو کې د اړوندو ځانګو د شته ظرفیت په پام کې نیولو سره، د آزموینو د ملي ادارې په واسطه د اختصاصي آزموینې له تېرولو څخه وروسته په دریم ټولګي کې جذبیږي.

(۴) د دارالعلومو د څوارلسمو ټولګیو فارغان د ۸۰ سلنې د نمرو د اوسط له بشپړولو او د آزموینې د ملي ادارې په واسطه د اختصاصي آزموینې په بریالي تېرولو سره د دولتي یا خصوصي لوړو زده‌کړو په مؤسسو پورې په اړوندو ځانګو کې د شرعیاتو د پوهنځیو او د اسلامي تعلیماتو او عربي دیپارتمنتونو په دریمو ټولګیو کې جذبیږي، د دغو ځانګو فارغان په هغه صورت کې چې بالفعل ښوونکي وي، د نمرو د سلنې په پام کې له نیولو پرته د اسلامي ښوونو

جذب می‌گردند.

(۳) فارغان صنوف چهاردهم مؤسسات تربیهٔ معلم بدون در نظرداشت فیصدی نمرات در برنامه های داخل خدمت و شبانهٔ پوهنځی های تعلیم و تربیه با در نظرداشت ظرفیت موجود در رشته‌های مربوط، بعد از سپری نمودن امتحان اختصاصی توسط ادارهٔ ملی امتحانات در صنف سوم جذب می‌گردند.

(۴) فارغان صنوف چهاردهم دارالعلوم‌ها با تکمیل ۸۰ فیصد اوسط نمرات و سپری نمودن مؤفقانهٔ امتحان اختصاصی توسط ادارهٔ ملی امتحانات در رشته های مربوط مؤسسات تحصیلات عالی دولتی یا خصوصی در صنوف سوم پوهنځی های شرعیات و دیپارتمنت های تعلیمات اسلامی و عربی جذب می‌شوند، فارغان این رشته‌ها در صورتی که بالفعل معلم باشند، بدون در نظرداشت فیصدی نمرات در دیپارتمنت های مذکور

او عربي ديپارتمنتونو کې جذبيږي.

## د لوړو زده کړو په مؤسسو کې د بهرنيو اتباعو شامليدل

**نهه دېرشمه ماده:**

بهرني اتباع د تقنيني سندونو په رعايتولو سره د هېواد د لوړو زده‌کړو په مؤسسو کې شامليداى شي.

## له منفکي وروسته د محصلانو دوه يم ځل شموليت

**څلوېښتمه ماده:**

(۱) هغه محصلان چې دکانکور د پايلو له اعلان څخه وروسته د سمستر د پيل د لومړۍ مياشتې تر پاى پورې نوم ثبت نه کړي له اړوند پوهنځي څخه منفک او توحيدي لېست يې د آزموينو ملي ادارې او د محصلانو د چارو لوى رياست ته د سمستر له پاى ته رسېدو مخکې لېږل کېږي.

(۲) هغه محصلان چې د دې مقررې له حکمونو سره سم د کانکور په آزموينه کې د شموليت حق ولري، کولاى شي د کانکور په راتلونکې آزموينه کې

جذب مى‌گردند.

## شموليت اتباع خارجى در مؤسسات تحصيلات عالى

**مادۀ سى و نهم:**

اتباع خارجى با رعايت اسناد تقنينى شامل مؤسسات تحصيلات عالى کشور شده مى‌توانند.

## شموليت دوبارۀ محصلان بعد از منفکى

**مادۀ چهلم:**

(۱) محصلانى که بعد از اعلان نتايج کانکور تا ختم ماه اول شروع سمستر ثبت نام نه نمايند از پوهنځى مربوط منفک و ليست توحيدى آن به ادارۀ ملى امتحانات و رياست عمومى امور محصلان قبل از ختم سمستر ارسال مى‌گردد.

(۲) محصلانى که مطابق احکام اين مقرره حق شموليت در امتحان کانکور را داشته باشند، مى‌توانند در امتحان بعدى کانکور اشتراک

ګډون وکړي.

(۳) که چېرې محصلان د لومړي سمستر په پيل کې د بېلا بېلو دلايلو پر بنسټ نوم ثبت نه کړي او د منفکي لېست يې د آزموينو ملي ادارې او د محصلانو د چارو لوی رياست ته لېږل شوی وي، په هغه صورت کې چې په راتلونکي کانکور کې يې ګډون نه وي کړی، يو کلن ناکام ګڼل کېږي، په راتلونکي کال کې په هماغه پوهنځي او څانګه کې د زده کړې د دوام حق لري.

(۴) هغه محصلان چې د کانکور د پايلو له اعلان او په اړونده پوهنځي يا ديپارتمنت کې د نوم له ثبت وروسته، د لومړني سمستر له آزموينو مخکې د منفکی غوښتنه وکړي، منفکي يې د اړوندې زده‌کړه ييزې مؤسسې له لارې، له پړاوونو تېرېږي او د کانکور په راتلونکي آزموينه کې د شموليت حق تر لاسه کوي.

(۵) هغه محصلان چې لومړی سمستر يې بشپړ کړی وي او د اړوندو پوهنځيو

نمايند.

(۳) هرگاه محصلان در شروع سمستر اول بنابر دلايل مختلف ثبت نام نه نموده باشند و ليست منفکی شان به ادارهٔ ملی امتحانات و رياست عمومی امور محصلان ارسال گرديده باشد، در صورتی که در امتحان کانکور بعدی اشتراک نکرده باشند ناکام يک ساله محسوب‌شده، در سال بعدی در عين پوهنځی و رشته، حق ادامهٔ تحصيل را دارند.

(۴) محصلانی که بعد از اعلان نتايج کانکور و ثبت نام در پوهنځی يا ديپارتمنت مربوط، قبل از امتحانات سمستر اول تقاضای منفکی نمايند، منفکی شان ازطريق مؤسسهٔ تحصيلی مربوط طی مراحل و حق شموليت در امتحان بعدی کانکور را کسب می‌نمايند.

(۵) محصلانی که سمستر اول را تکميل نموده اند و محصلان

د وروسته سمسترونو محصلان دکانکور په راتلونکې آزموینه کې د ګډون حق نه لری او له منفکی څخه وروسته په اړونده پوهنځي کې د دوه‌یم‌ځل د شمولیت حق نه لري.

## اووم فصل

## د محصلانو خدمتونه

### د محصلانو د خدمتونو طرحه او پلي کول

**یوڅلویښتمه ماده:**

(۱) د لوړو زده‌کړو مؤسسې مکلفې دي د محصلانو د فکري، ټولنیزې ودې، د پټو استعدادونو د پراختیا، د زده کړه ییز کیفیت، د کاري، دنده ییزو فرصتونو د لوړولو او له دوامداري زده‌کړې سره د محصلانو د علاقه مندۍ په منظور له اړوندو ادارو سره په همغږۍ کې لاندې خدمتونه وړاندې کوي:

۱- د بیلګې په توګه سره کتابخونې، لابراتوار، د لوړو زده‌کړو مؤسسو د عمومي تأسیساتو، پوهنځي،

سمسترهای بعدی پوهنځی های مربوط حق شمولیت در امتحان کانکور بعدی را نداشته و بعد از منفکی حق شمولیت دوباره را در پوهنځی مربوط ندارند.

## فصل هفتم

## خدمات محصلان

### طرح و تطبیق خدمات محصلان

**مادهٔ چهل و یکم:**

(۱) مؤسسات تحصیلات عالی مکلف اند به منظور رشد فکری، اجتماعی، توسعهٔ استعداد های مخفی، بالابردن کیفیت آموزشی، فرصت های کاری، وظیفوی و علاقه مندی به آموزش دوامدار محصلان، خدمات ذیل را در هماهنگی با ادارات ذیربط عرضه نمایند:

۱- آشنا سازی محصلان جدیدالشمول با محیط اکادمیک و جنبه های مختلف محیط مؤسسات

دیپارتمنت، څانګو او ټولــو قوانینــو، مقررو، لایحو او کړنلارو له اکاډمیک چاپیریال او د لوړو زده‌کړو مؤسسو د چاپیریال له بېلابېلو اړخونو سره د نویو شامل شویو محصلانو بلدول.

۲- د علمي سیمینارونو د جوړولــو، د څېړنې د تګــلارو او د کتــابخونې انټرنـــټ، د مجلـــې د خپرولـــو او د محصلانو په خدمتونو پورې د اړوند ســـایت د ســـرچینو د لټـــونې، د زده کړه ییز نصاب په تدوین کـې د لازمو سلاوو، د خلاقو او نوښتګرو محصلانو د پېژنـــدنې او د محصــلانو تــرمنځ د زده‌کــړه ییــزو ســیالیو د تدویرولو له لارې د علمي مشاورې خدمتونه.

۳- د تحصیل په وخت کــې او لــه فراغت څخه وروسته د کار د چاپیریال ته د محصلانو د ننوتلو شغلي خدمتونو ته هڅول کېږي، یعنې محصـــلانو تــه د حضـــوري او غیـــر حضـــوري زده‌کړه ییزو سیمینارونو د جوړولو له لارې د اړونـــدو شغلـــي څانګـــو

تحصیلات‌عالی از قبیـــل کتابخانـــه، لابراتوار، تأسیسات عمومی مؤسسات تحصیلات عالی، پوهنځی، دیپارتمنت، رشته ها و تمام قوانین، مقررات، لوایح و طرزالعمل ها.

۲- خدمات مشاورهٔ علمی از طریـــق برگـــزاری ســـیمینار هـــای علمـــی، روش هـــای تحقیـــق و جســـتجوی منـــابع از کتابخانـــه، انترنـــت، نشـــر مجلـــه و ســـایت مربـــوط خـــدمات محصـــلان، مشـــوره هـــای لازم در تـــدوین نصـــاب آموزشـــی، شناســـایی محصلان خلاق و مبتکـر و تـدویر مســـابقات آموزشـــی در بـــین محصلان.

۳- خدمات شغلی ورود محصلان به محیط کار که در حـین تحصـیل و بعد از فراغت تشویق می‌گردند، یعنی به محصلان برنامـه هـای آموزشـی شـغلی رشـتهٔ مربـوط از طریـق برگزاری سـیمینار هـای آموزشـی حضـــوری و غیرحضـــوری

زده کړه‌ییزې برنامې په ځانګړي ډول د کار د بازار د اړتیا وړ مهارتونو زده‌کړه ورکول کیږي.

د محصلانو لپاره په دولتي او غیر دولتي اداروکې د کـــار زده‌کــړې زمینـــې د سمستر د رخصتیو په منځ یا له وخت وروسته برنامې د سمستر په بهیر کې برابریږي.

۴- د سلامتیا خدمتونه او رواني روغتیا چې په دې برخه کې د محصلانو رواني او ټولنیزې روغتیا ته پاملرنه کیږي او د ستونزې د څرګندېدو په صورت کې د رواني روغتیا له متخصصینو سره لازمې مشورې صورت مومي او د محصـــل د سالمې اروا د تأمینولو په منظور علمي او روغتیایي سیمینارونه جوړیږي.

۵- له تاریخي ځایونو او فرهنګي آثارو څخه د محصلانو کتنـــه، د نارینـــه او ښځینه محصلانو لپاره په بـــېلا بېلـــو څانګو کې د ورزشي فعالیتونو په لاره اچول، د لوړو زده‌کړو په مؤسسو کې د فرهنګي جشنونو جوړول د بېلګې په توګه د فرهنګي او علمي نندارتونونو،

خصوصـــاً مهـــارت هـــای مـــورد نیـــاز بـــازار کـــار آمـــوزش داده می‌شود.

برای محصلان زمینه های کار آموزی در ادارات دولتی و غیر دولتی در بین رخصتی های سمستر یا برنامه هـــای بعد از وقت درجریان سمستر فـــراهم می‌گردد.

۴- خدمات سلامت و صحت روانی که در این بخش به صحت روانـــی و اجتماعی محصـــلان توجـــه مبـــذول گردیده و درصورت بروز مشکل بـــا متخصصین صحت روانی مشوره های لازم صورت گرفته و ســـیمینار هـــای علمی و صحی به منظور تـــأمین روان سالم محصل دایر می‌گردد.

۵- باز دید محصـــلان از محـــلات تاریخی و آثار فرهنگی، راه انـــدازی فعالیت های ورزشی در رشـــته هـــای مختلف برای محصلان ذکور و اناث، برگزاری فیستوال های فرهنگـــی در مؤسسات تحصیلات عـــالی از قبیـــل نمایشگاه های فرهنگـــی و علمـــی،

کنسرت، موسيقي، تياتر او د ملي ورځو نمانځنه، د محصلانو علمي سير، په هېواد کې د ننه يا بهر د لوړو زده‌کړو په مؤسسو کې د محصلانو د تبادلې د برنامو جوړول.

۶- د شخړو د حل خدمتونه چې په دې برخه کې د تاوتريخوالي د پيداکوونکو موقعيتونو پېژندنه، د تاوتريخوالي د کمښت، د سولې، زغم او د يو بل منلو فرهنګ، د سالمې زده‌کړې د فضا برابرول، له تاوتريخوالي څخه د رامنځ ته شوو ستونزو لرې کول، له قومي، ژبنيو او جنسيتي تعصبونو او تبعيض څخه د مخنيوي، د ډله ييز کار د روحيې رامنځ ته کول تر مطالعې لاندې نيول کېږي او د هغو د منطقي حل لارې لټول کېږي.

۷- د ليليې خدمتونه د ليليې د محصلانو ترمنځ د سالمې فضا رامنځ ته کول، په ليليه کې نافذو مقرراتو ته درناوی، له ليليې څخه د ګټې اخيستنې د ډول په اړه محصلانو

کنسرت، موسيقی، تياتر و تجليل از روز های ملی، سيرعلمی محصلان، داير نمودن برنامه های تبادلۀ محصلان در مؤسسات تحصيلات عالی در داخل و خارج از کشور.

۶- خدمات حل منازعات شناسايی موقعيت های خشونت زا، کاهش خشونت، فرهنگ صلح، تحمل و همديگرپذيری، ايجاد فضای سالم آموزشی، رفع مشکلات ناشی از خشونت، جلوگيری از تعصبات و تبعيض قومی، زبانی و جنسيتی، ايجاد روحيۀ کار دسته جمعی مورد مطالعه قرار گرفته و راه های حل منطقی آن جستجو می‌گردد.

۷- خدمات ليليه ايجاد فضای سالم در بين محصلان ليليه، احترام به مقررات نافذ در ليليه، رهنمايی محصلان در مورد طرز استفاده از ليليه، راه اندازی فعاليت های فرهنگی

ته لاربنوونه، په ليليه کې د فرهنګي او ورزشي فعاليتونو په لاره اچول، په داوطلبانه کارونو او د ليليې په نظافت کې د محصلانو ونډه اخيستل، د خوراکي مينو له کيفيت او کميت څخه څارنه، له هر راز سياسي، قومي، سيمه ييز او ژبنيو فعاليتونو څخه مخنيوی چې د محصلانو تر منځ د تاوتريخوالي لامل ګرځي او له نشه يي توکو او دخانياتو څخه د نه ګټې اخيستنې په باره کې لازم پوهاوي او ليليې ته د هر راز ناريه وسلې او جارحه وسايلو له راوړلو څخه مخنيوی تر بحث لاندې نيول کېږي او د هغو په عملي کولو کې جدي اقدامونه صورت مومي.

(۲) د محصلانو چارو معاونيت او د پوهنځيو رياستونه مکلف دي د خدمتونو د وړاندې کولو له تطبيق څخه څارنه وکړي.

و ورزشی در ليليه، سهم گيری محصلان در کار های داوطلبانه و نظافت ليليه، نظارت از کيفيت و کميت مينوی غذايی، جلوگيری از هرنوع فعاليت های سياسی، قومی، منطقوی و زبانی که منجر به خشونت در بين محصلان گردد و آگاهی لازم در مورد عدم استفاده از مواد مخدر و دخانيات و جلوگيری از آوردن هرنوع اسلحهٔ ناريه و وسايل جارحه در ليليه مورد بحث قرار گرفته و در عملی نمودن آن اقدامات جدی صورت می‌گيرد.

(۲) معاونيت امور محصلان و رياست های پوهنځی ها مکلف اند از تطبيق عرضهٔ خدمات نظارت نمايند.

## اتم فصل

## وروستني حکمونه

**څارنه**

**دوه څلوېښتمه ماده:**

د لوړو زده‌کړو وزارت مکلــف دی، د دولتي او خصوصي لوړو زده‌کړو په مؤسسو کې ددې مقررې د حکمونو له تطبيق څخه څارنه وکړي.

**د لايحو او کړنلارو وضع**

**دري څلوېښتمه ماده:**

د لوړو زده‌کړو وزارت کولای شــي، ددې مقررې د حکمونو د ښه تطبيق په منظور لايحې او کړنلارې وضع کړي.

**انفاذ**

**څلور څلوېښتمه ماده:**

دغه مقرره په رســمي جريــده کــې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.

## فصل هشتم

## احکام نهایی

**نظارت**

**مادۀ چهل و دوم:**

وزارت تحصیلات عالی مکلف است، از تطبیق احکام این مقرره در مؤسسات تحصیلات عالی دولتی و خصوصــی، نظارت نماید.

**وضع لوایح و طرزالعمل ها**

**مادۀ چهل و سوم:**

وزارت تحصیلات عالی می‌تواند، بــه منظور تطبیق بهتر احکام این مقــرره لوایح و طرزالعمل ها را وضع نماید.

**انفاذ**

**مادۀ چهل و چهارم:**

این مقرره از تاریخ نشــر در جریــدۀ رسمی نافذ می‌گردد.